Kandahar. Kabul
Vol.11, No.10, Jadi 1349
(December 1970)

کندهار

زموږ ګران ټولواک همایونی معظم اعلیحضرت دهیوآدشمالی ولایاتو ته
په خپل وروستی شاهانه سفر کی کله چی دسمنګان په ولایت کی
دخلګو دشاه دوستی او تودو احساساتو سره بدرقه کیږی

کندهار

د ۱۳۴۹ لمریز کال مرغومی میاشت

پوهنه او پرمختګ

داوسنی ژوند شرایط چی د تیرو پیړیو په نسبت بدلون پیدا کړیدی دا ځکه چی بشر تل د طبیعی غریزی له مخی د علمی انکشافاتو له لاری د خپلی نیکمرغی او آرامی په لټه کی دی او هره ټولنه غواړی چی د عصر د مقتضیاتو او ایجاباتو له مخی د انکشافی سیر په لړ کی خپل برم خوندی کړی.

د تاریخی شواهدو له مخی چی وینو، بشری ټولنو د هیڅ یوه آفته څخه دومره اضرار نه دی موندلی لکه د جهل او ناپوهی څخه نو پدی اساس ویلای شو چی جهل او ناپوهی د بشری ټولنو لومړنی دښمن دی، نو ځکه بشری ټولنو د تاریخ په ادوارو کی د خپلی آرامی په ملحوظ د ارتقائی سیر د موانعو د منځه وړلو په غرض د عصر د ایجاباتو سره سم زیاتی ستومانی ګاللی دی او نور هم هاندکوی چی د ټولنو د ژوندانه سطح د نوی او آسوده ژوند پر لور د ارتقا و نهائی پړاوته ورسیږی چی د دغو ټولو پرمختګونو د عواملو یوازینی لاره همدغه پوهنه ده.

که موږ د نړۍ و موجوده تمدن ته ځیر شو او هغه هیوادونه چی نن ورځ د ترقی او پرمختګ ولوړو مدارجو ته رسیدلی دی د پوهی په رڼا کی ئی د نوو اختراعاتو او علمی انکشافاتو په وجه ئی د طبیعت ډیر پټ او مرموز اسرار د مځکی پرمخ، د ننه په مځکه حتی په فضا او بیګانه ؤکرو کښی څرګند کړیدی او هم ئی د هرشی علت او معلول کشف کړیدی دا ټوله رفعت د پوهنی او عرفان برکت دی چی بشری جوامعو ته ئی دا زمینه مساعده کړیده چی د جهل، طبیعی آفاتو او نورو اجتماعی بحرانونو څخه ځانونه خوندی کړی.

په نړۍ کی ډیر واړه هیوادونه شته چی د نفوسو له نقطهٔ نظر د ډیر لږ مګر د علم او پوهی پانګه یی زیاته ده ترځینو لویو هیوادو چی د علم څخه بی برخی دی ډیر مختهٔ تللی مترقی او آرام دی، نو پدی اساس دا منل شوی خبره ده په هره اندازه چی بشری ټولنی د علم او عرفان په تجهزاتو مجهزی وی په هغه اندازه ئی په بشری جوامعو کی د تنظیم او انکشاف د تلی مقیاس لوړ دی.

نو څرنګه چی د ترقی او پرمختګ لومړنی اساس په علم پوری مربوط دی نو ځکه زموږ مطبوعه حکومت د ډیری مودی راهیسی په ګران هیواد کی د ورځ په ورځ زیاتیدونکو اړتیاؤ له کبله د عام علم د زده کری په غرض خپله خاصه پاملرنه د پوهنی و انکشاف ته راګرځولی ده چی د انکشافی پلانونو په برکت ئی د معارف د تعمیم په برخه کی د پوهنی، روزنی ښودنی په لاره کی جدی اقدامات شروع کړیدی چی د هیواد په هره برخه کی علاوه پر رسمی ښوونځیو تربیوی مؤسسات د افغان ؤلس د افکارو د روښانه کولو په ملحوظ په کار اچولی او ځینی نورداسی انکشافی پلانونه ئی د علمی او فنی لاری ترلاس لاندی دی چی دا ټوله ورځ په ورځ د ګران هیواد د نیمګړتیاؤ د بشپړیدو او د عصر د مقتضیاتو سره سم د عصری او مرفه ژوند د تامین زیری راکوی.

څرنګه چی پوهنه او علم د یوه هیواد د ټولو پرمختګونو یوازینی عامل دی نو ځکه پر موږ لازمه ده چی د خپل ژوند د ښه کیدو په ملحوظ د تعلیم او تفهیم په لاره کی لکه څنګه چه ښائی د استفادی قدرت په ځان کی پیدا کړو او هم هاندو کړو چی د اجتماعی و جائبو له مخی په خپلو کلګو مجاهدو د علم او پوهنی د ځلاندو پلو شو په رڼا د ګران افغانستان د ترقی او د ټولنی د خیر او بهبود په لاره کی د معظم ټولواک ترسیوری لاندی او چت ګامونه واخلو او پدغه لاره کی خپل جدوجهدو ساتو او د کلی خیر مصدر وګرزو.

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 APR 2005
6 CONTINUATION 6

د امتیاز خاوند : د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسؤل مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
ادبی ، تاریخی ، اجتماعی ، علمی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د یوولسم کال لسمه ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۳۴

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
د هیواد په داخل کی [۳۲] «
په د باندنیو هیوادو کی یوډالر
د مرغومی میاشت
۱۳۴۹ لمریز کال

د دې ګڼې مضامین

پوهنه او پر مختګ سر مقاله	د پشتی دوهم مخ	
د پښتو پر شفاهی کیسه	۱	مخ
ادب باید د اجتماعی ژوند تصویر وی	۵	مخ
سردار محمد ایوب خان څوک ؤ	۷	مخ
تجربوی علوم	۹	مخ
پطرول څرنګه پیدا کیږی	۱۱	مخ
د ادب وږمی	۱۲	مخ
د زړو نوغل	۱۳	مخ
افکار	۱۳	مخ
محمد عبدالغفار الهاشمی	۱۴	مخ
سوفسطایان څوک ؤ	۱۵	مخ
د شاعر مرګ	۱۶	مخ
ابراهم لنکولن	۱۷	مخ
سخن مجلی ته یوه کتنه	۱۸	مخ
د بیکاری شدت (داستان)	۲۱	مخ
ارسطو او د هغه فلسفی معضلی	۲۳	مخ
د کوه نور الماس	۲۵	مخ
د پښتنو تعاملی حقوق	۲۷	مخ
ساینس د ډاروین نظریات تردیدوی	۲۸	مخ
سفر	د پشتی ۳	مخ
نیکوکاران	د پشتی ۳	مخ

د کندهار دولتي مطبعه

د پښتو پر شفاهي کيسه

يوه مقدمه

داروپا خواته ورشيوه کيدی او دهغو سيمو له بومي اقوامو سره مي جګړی کولی .

ددغو داستانو حکايات البته قديم وه او په ولس کی په شفاهي ډول ويل کيده څو دميلاد څخه په اتمه ترمخنی پيړۍ کی هومير هغه منظوم کړل .

د هندی حماسه

راماين او مهابهارات

ويدايي ادب د نړۍ قديم ترين آثار ساتلی دی او دهغه داستانونه هم د قديم يونان د ادبياتو په شان داريايي ولس هغه کيسی دی چی په مختلفو وختونو کی تکميل شوی او دلرغونی کلتور په معرفی کی ډيره مرسته کوی .

له ايلياډ او اوډيسی چی دلويديځی نړۍ قديم حماسی بلل شويدی نو دختيځی نړۍ په ادب هم راماين او مهابهارت دغسی حثيت لری . دادوی کيسی داريايي ولس دعقايدو او ذوق محصول دی چی په زرګونو کالو تکميل شوی او بيا دشاعرانو له خوا منظومی شويدی .

راماين ورام (رام داش رتهی) ته منسوبه ده داحماسه د (رام چندر) دژوند ماجراده چی پر خپله ماينه (سيتا (مين ؤ خو هغه (راون) نومی ځينی تښتوی رام پدې پسی رهی کيږی څو جګړی پيښيږی او (سيتا) بيرته راولی او (راون) وژنی .

کله چی سيتا راولی پر هغی بدګمانه کيږی او شړی يی هغه (المکی) ته راځی او ګوښه نشينی غوره کوی . په دغه وخت کښی يی (کوشا) او (لاوا) زيږی . رام چی کله د داهلو کان وينی نو يقين يی راځی چی ماينی يی خيانت نه دی ورسره کړی . نو (سيتا) بيرته کورته راولی خو هغه مری او (رام نيت کوی چی پدې پسی به ځی او پردغه اورجنت ته رسيږی . [۱]

داحماسه اووه برخی (کاندا) لری او تقريباً ټوله (۵۰۰۰۰) بيته کيږی دمهابهارت حماسه و (وياسا) نومی سړی ته منسوبه ده چی ټوله ۲۱۵۰۰۰ بيتو ته رسيږی .

په دې حماسه کی ددوو کورنيو (کوروان) او (ظوندوان) دځوانانو ترمنځ جګړه بيانيږی او دقديم عرف او سننو ډېری رنګينی پکښی پرتی دی . مثلاً د (دروپادی) (په داستان کی دروپاد) نومی شهزادګی چی دپنچال دباچا لوروه دپنځو شهزادګانو سره په يوه وخت کی واده کړيدی او له دې څخه نو په يوټاکلی وخت دفاميلی تکامل د (پوليګامی) [۲] ترڅ دورا ايسته کيږی .

داحماسی داستان هم ديو لړ شخړو او جګړو . قهرمانيو او پهلوانيو څخه مالا مال دی او څرنګه چی د عقيدی بربنايی ترتيب عملی شوی ؤ نو دمقدساتو په جمله کی داخل شو او (ريشان) په مکلف وه چی دا په حافظه کی وساتی او په مخصوصو وختونو کښی به يی په عامو محضرو کی وايه .

دمهابهارت لومړی دتفر دشکونتلا [۳] په نامه دی چی (کاليداس) نومی شاعر هغه په سانسکرټ کی ديو تخيلی داستان په ډول منظوم کړاونن دقديمی زمانی يو دلچسپ داستان شمېرل کيږی .

دسانسکريټ ادبياتو له ډېروغنی ذخايرو څخه شکونتلا (ورکه شوی ګوتمی) يو داسی داستان دی چی دقديم هندوستان داريايي کلتور خوراډېر مظاهر پکښی پراته دی .

---

[۱] اويانيشاد ۵۸۵ مخ [۲] پوليګامی

[۳] اويانيشارد تهراده دارا شکوره پر ترجمه د داکتر تاراچنداد جلالی نائبی تعلقات ۵۷۴ مخ

داداستان چی په ډراماتیک شیوه لیکل شویدی دسانسکریټ دمعروف شاعر (کالیداس) اتردی .

نوموړی منظوم ډراماتیک داستان د لومړی ځل لپاره له نن څخه یوسل او اتیا کاله وړاندی یو انګلیس پیدا کړ او هغه ئی په انګریزی ژبه ترجمه کړ .

د کالیداس دژوند پوره تاریخ معلوم ندی خو دونه ویل کیږی چی هغه ددوهم چندرکت په زمانه کی چی په دبګراماتیا معروف ؤ اوسیدی او دا پاچا د ۳۷۵ څخه تر ۴۱۳ م پوری په شمالی هندوستان کی پاچهی کوله .

دهندوستان ادب پوهانو چی د کالیداس آثار لوستی دی نو وایی چی هغه په ویدا کی فلسفه او ادب کی ډیر پوه ؤ او دمعروفی حماسی (مهابارا تا) څخه ئی خپل داستانونه اقتباس کړی دی او شکونتلا دده هغه اثر دی چی په څرګند ډول دمهابارتا څخه را اخیستل شوی

دی او ده په خپل هنری استعداد هغه ته پالش ورکړی او یو ښکلی حماسی ډراماتیک آثر یی ځینی جوړ کړی دی .

د هندوستان معاصر معروف شاعر (رابندرانات ټاګور) دشکونتلا په باره کی وایی چی دا یو اځی یوه باستانی حماسه نه ده بلکه یوه عمیقه فلسفه ده .

دالمان معروف لیکوال او شاعر (ګوینه) وایی چی شکونتلا مطالعه زما دعمر یوه لویه حادثه ده . دا داستان اوه مجلسه دی چی د لومړی مجلس څخه عاشق او معشوق له یوه عالم څخه بل عالم ته پورته کیږی خو د کمال په اومه مرحله کی معنوی وصل ته رسیږی .

داستان که څه هم په ظاهره کی یو ددمینی او محبت زور ازمایی تمثیلوی خو په معنی کی دهندویزیم دفلسفی اعماقو ته ځان رسوی او دمسایلو او ډنه تقریباً دننی سمبولیزم په شیوه په خاصو رموزاتو اړوی .

دا اثر چی نن ورځ یی فلمونه هم جوړ شوی او څو کاله وړاندی یی دسینما بین المللی جایزه هم فلم وګټله لومړی په ۱۷۸۹ کښی او یلیام جاز انګلیس په انګریزی ترجمه کړه په ۱۷۹۱ کښی المانی فورستر او په ۱۸۳۰ کښی (جیزی) فرانسوی ترجمه کړه سربیره پردی سنزلر المانی او ویلسن انګریزی هغه په ایټالیایی او ډنمارکی ژبو واړوله او دا کلاسیک سانسکرت اثر ټوله اروپا وپیژند .

هندوستانی لیکوالو هغه په بنګالی او نورو محلی ژبو هم ترجمه کړی دی چی نن دهندوستان دبهترینو ادبیاتو په جمله کی ځای لری .

پدې ځای کی ددغو قدیمو داستانو څخه د (راماین) دداستان یو لنډیز وړاندی کیږی تر څو دداستان اصل تخیل یو څه درک کړای شو .

د (راجا دشړتهد) دسررج بننی) دکورنی یو لوی باچا ؤ چی دشمالی هندد (ایودهیا) په سیمه کی یی پاچهی کوله دې باچا درې ماینی درلودی چی یوه یی (کوشلیا) بله یی (سمترا) او دریمه یی (کیلشی) نومیدله .

له درماینو څخه راجا څلور زامن پیدا کړل چی یو یی (رام چند) بل یی (لکشمن) دریم یی (بهرت) او څلورم یی (شتروګن) نومېدی .

څرنګه چی د (کوشلیا) زوی (رام) تر نورو وروڼو مشر ؤ نو راجا هغه خپل ولیعهد وټاکی او د (ګورودششټ) له رواج سره یی جنګی مذهبی او دمملکتداری تعلیم وروښودی .

په یو بل ملک کی چی (مهتلا) نومیدی دراجا رانژدی (جهنک) دلورد سویمبر [۱] ورځی

---

[۱] سویمبر: په ذریعه زمانه کی داسی رواج ؤ چی دپاچا لور به په شرطو ادا کېده او دملکو شهزادګان به راتلل او هرچا چی به شرط وګټی شهزادګی به دهغه وه .

کیدی او د شاوخوا ملکو د راجازادګان په جمله کی د شورج بهننی له کورنی څخه د راجا د شرتهه مشر زوی (رام چندر) او په هغه پسی (لکشمن) هم دغه سویمبر ته ور بلل شوی وه .

په سویمبر کی یوه کړی ځړول شوی وه چی په غشی باید ویشتل شوی وای نو کله چی (رام چندر) خپله کمانه کش کړه او غشی له هغی څخه ووت سم پر کړی وموښت او پدی ډول رام چندر د راجا جهنګ لور (سیتا) چی یوه وتلی پیغله وه او نوم یی پر وطنو پروت ؤو ګټله .

کله چی رام چندر سیتا وکړه نو د راجا یی مقام له پاره یی چانس تر پخوا څو چنده زیات شو

کله چی رام چندر کور ته راغی نو تر ټولو لومړی د کشری میری (کیکشئی) حسد او دښمنی ورسره پیدا شوه او هغی زیار ایستی چی د دې زوی (بهرت) د پلار پر ځای کښینی .

د هغه وخت له دود سره یو داؤ چی راجا باید یو زوی وځنګله ته د عبادت له پاره ولیږی نو د (کیکشی) په تحریک راجا د شرتهه مشر زوی (رام چندر) په دغه وظیفه مکلف کړ . رام چندر هم د پلار امر ومانه او د خپلی ماینی (سیتا) او کشرورور (لکشمن) سره ځنګله ته ولاړ او د هندوستان په ځنګلو کی پسی ورک شو .

د دغو دووزامنو له فراق څخه راجا د شرتهه په ستر ګو ړوندسو او بیا پسی مړ شو .

د پلار تر مرګ وروسته د (کیکشی) زوی (بهرت) چی یو انصاف داره ځوان ؤ د راجا حق یی د (رام چندر) و باله او پخپله یی له دغه مقام څخه انکار وکړ او د ولسی مخورو په ملګری په رام چندر پسی ځنګلو ته راووت پسله ډیر وخت څخه دوی د چتر کوټ په غرو کی سره پیدا کړل او (بهرت) له ده څخه وغوښتل چی د پلار مقام واخلی خو رام چندر قبوله نکړه او بهرت ته ئی وویل دا کار دی ستا روزی شی . تر دې وروسته پوره دیرش کاله رام لکشمن او سیتا په دغه ځنګله کی وه څو یو وخت د (لنکا) راجا (راون رام) چی د سیتا د ښائست اوازه ئی اورېدلی وه له رام چندر څخه وتښتوو له .

رام چندر له [پنج ویتی] څخه د خپل دوست قوم (بانر) د کورنی د مشر (سګریو) او د هغه د سپه سالار (هنومان) په ملګری لنګا ته ولاړ او د راجا روان رام سره یی جګړه وکړه په جګړه کی یی هغو ته ماته ور کړه او رام چندر بیرته خپله ماینه سیتا راوسته راجا یی مړ کړ او پاچهی یی د هغه ورور (بهیهیکشن) ته وسپارله او چی بیرته خپل ملک ته راغی نو بهرت دا یو د هیا حکومت ده ته ور حواله کړ [۱] .

دری حماسه

د فردوسي شاهنامه

د نړۍ په ډېرو معروفو داستانونو کی چی عالمی شهرت لری یو هم د فردوسی شاهنامه ده چی د غزنوی د دربار د هنرخیزه دوران محصول بلل کیږی .

شاهنامه هم لکه ایلیاډ او ډیسه . راماین او مهابهارت د یو شمیر کیسو مجموعه ده چی داستانونه یی ټوله داریایا نو د پهلوانی او تاریخ څخه سرچینه اخلی .

وایی چی فردوسی لومړی د دقیقی طوسی ګرشاسینامه ولیدله او د دې لپاره چی هغه تکمیل کړی نو کومی کسی چی په ولس کی موجودی وی هغه یی راټولی کړی او په نظم کی یی واچول شاهنامه په دری ژبه منظوم شوی او ۶۰۰۰۰ بیتو ته یی شمېر رسیږی .

د شاهنامی په کیسو کی د ۳۶۰۰ ق م څخه نیولی بیا تر ۶۵۱ م پوری د افسانی [ ] او تاریخ څخه ترکیب یو شمېر ماجراوی بیا نیږی [۲] .

---

[۱] رهبر تاریخ هند [۳۳ مخ]

دادبی ځیږونو خاوندان وایی چی داحماسه دری برخوته ویشل کیږی چی هغه عبارت له افسانی . پهلوانی او تاریخ څخه دی .

دشاهنامی افسانی دهو مریك اوهندی افسانو سره شباهت لری . او تاریخ یی هم د واقعه نگاری کمزوری لری خو کومه نجیبه برخه چی

پهدغه لویه حماسه کی پرته ده هغه یی دقهرمانی او پهلوانی برخه ده .

ددغی برخی په کیسو کی د [شهراب] او او [رستم] کیسه یی خاص شهرت لری اوحماسه

یی هم پهحقیقت کی دغه برخه تشکیلوی .

شاهنامه دنړی پهډیر وژبو ترجمه شویده اوداړی په کلاسیکو ادبیاتو کی یو نجیبه اثر شمیرل کیږی .

الف لیله و لیله

یوزراو یوه شپه یو کلاسیك داستان

دامعروفه کیسه ډیر قدیم تاریخ لری اود ختیځو دربارونو حکایت کوی .

داترا وسه معلومه نده چی داکیسه لومړی څه مهال او په کوم ځای کی د چاله خوا جوړه شوه خو ځینو ژوروتحقیق کوونکو ویلی دی

چی داکیسه دقدیم چین پهادبیاتو کی زیږیدلی اوله هغه ځایه هندته اوله هند څخه عربو او له هغه ځایه دلویدیځ اوختیځ نورو سیمو ته رسیدلی ده .

داکیسه پهلویدیځ نړی کی پهډیر وژبو ترجمه شویده او په انگلیسی کی د [اربین نایت] یعنی [عربی شپو] پهنامه یادیږی .

کیسه پهډیره هنرمندی ترتیب شوی اود یوه ځنځیر پهډول پهیوه لویه سلسله سره تړل شوی دی چی داتوله ۲۶۴ کیسی ځینی جوړیږی پهکیسه کی دیوه پخوانی پاچا نکل دی چی په مینه کښی یی فریب خوړلی ؤ او پر ښځه یی

زړه غیرؤ نو ځکه هره شپه پهئی دیوې نجلی سره واده کاوه او پهسبا پهئی وژله .

پدې ډول پاچا دتوله ښار پیغلانی خلاصی کړی ایوه ورځ چی پهښار کی نجلی نه پیدا کیده نو وزیر ته ئی امر وکړ چی حتماً پهیوه پیغله ورته پیدا کوی .

وزیر هم هو کی وویل او خوابدی کورته راغی . وزیر یوه ډیره هوښیاره لور درلوده چی [شهزاده] نومیده هغی دی کارته ځان چمتو کړ .

او ماښام چی د پاچا حرم ته ورغله نو خوږی ودسره وه خوږی د پاچا څخه اجازه واخیسته او یو نکل ئی شروع

کړ او دا نکل داسی شیرین ؤ چی پاچا تر سهاره غوږ ورته ونیوی او شپه ئی پیغله ونه وژل او د هغی خورته ئی وویل چی د دې نکل پاته به

ماښام ته کوی . پهدې دوهمه شپه د نکل پاته بیا شروع شوه او پریوه ډیر شیرین ځای نکل ناتمامه پاته شو او سهار شو .

پدې ډول یوزر او یوه شپه دی نکل دوام وکړ او پاچا هم خپل پخوانی عادت واچاوه داکیسه دنړی پهکلاسیك ادبیاتو کی ډیر مقام لری او پهـ همدې منظور ؤ چی شو کاله وړاندی زموږ یوه پیاوړی لیکوال ښاغلی اومیالی دهغه یوه برخه ترجمه کړه او د طلوع افغان پهپاورقی کی نشر شوه خو بیا دا کار پاته شو او بل چاپ سی تعقیب نه کړ

پای

ادب باید د اجتماعی ژوند

تصویروی

داچی د ژوندانه په ټوله شئونو کی ښکاره تحولونه او څرګند تغیرات راغلی دی علت ئی دادی چه بشری ذهنیت بدل شویدی او د افکارو مجری الیشه شوی ده څرنګه چه ټول علمی او مدنی نهضتونه د انسانی دماغ محصول دی او دماغونه تل د تجدد، تحول، او انکشاف وخواته مایل دی، په اجتماعی لارو علمی او ذوقی حالاتو کښی هم بدلون راشی، انسان خو په لوی سرکی پر تجدد او تحول زړه بایللی دی تکرار او زاړه شیونه ئی زړه ورتوره وی او تل پدی هڅه وی چه نوی مضمون ایجاد او نوی لو به سازه کړی.

د نړیوالو په دماغونو کښی خو څو پیړی د مخه تحول او انکشاف راغلی دی چه دغه دی

نن ورځ د خپلو علمی اختراعاتو په برکت د آسمان وسیارو ته وخیژی او د تاریخ په شاهدی سره د دوی دغه فکری او دماغی تحولونه لومړی د دوی په ادبی نښو کښی ښکاره شویدی، د اوروپا د تاریخی مطالعاتو څخه دا موږ ته څرګنده ده چه د فرانسی دا تلسمی پیړی د لوی نهضت څخه څه ډول رومانتیکی ښوونځی پیدا شوه او دی نوی مکتب څرنګه کلاسیکی سبک له مینځه یووړ، نو اوس موږ ته هم لازمه ده تر هغه ځایه پوری چه زموږ اجتماعی ژوند او ملی شعایر درعمولو حوصله لری په ځینو مدنی او ادبی چارو کښی څه بدلون او تجدد راولو.

که موږ د ادب داسی تعریف و کړو چه د انسان د باطنی خواهشاتو او تاثراتو مجموعه ده نو دا به ادب د پاره د ادب وی او که ادب د انسانی ژوند د مظاهر و تصویر شی نو دا به اجتماعی ادب و بولو څرنګه چه ادب د پاره د ادب په بشری ټولنه کښی مصداق نه دی پیدا کړی او تل د اجتماعی قدرتونو له خوا ادب استعمال شوی دی نو ځکه او سنی نقادان هغه ته د اهمیت په سترګه نه ګوری او غندی ئی.

ادب چی د تاریخ په سیر کښی بیلی بیلی دوری لکه قبیلوی ادب، درباری ادب تصویری او دمین تا به ادب تیری کړی او څرنګه چه دغه ټول ادبی مسلکونه د زړی زمانی د ژوندانه دودونو، او فکرونو ترجمان دی ځکه ئی په او سنی دنیا کښی چه د ترقی او تجدد زمانه ده خپل قیمت بایللی دی.

حتی د تصور او تخیل منابع او اساسات ئی بیخی له مینځه تللی او نابود شویدی په نننی مدنیت او ژوندانه کښی موږ نه شو کولای چه تیری سوی ادبی خاطری را ژوندی کړو او دهغه مواد څخه چه لرغونو د ادب د ماڼی د جوړولو د پاره په کار وړل موږ هم استفاده ځینی وکړو.

ځکه اوس د ژوند ټول اړخونه بدل شوی او د تصور او تخیل مجری هم سره اوښتی ده د مثال په ډول که اوس یو ادیب را ولاړیږی په داسی حال کښی چه کوم ګران اشنائی دا لوتکی په ذریعه مسافرت ته ځی او دی دا لوتکو په ډګر کښی د خپل اشنای د خدای په امانی د پاره ولاړوی او دا لوتنی په حالت کښی دا شعر ووائی چه:

ای ساربان آهسته ران که آرام جانم میرود
آن دل که با خود داشتم با کاروانم میرود

څونی به د خندا وړ خبره وی ځکه نه ساروان دلته موجودیت لری او نه کاروان د اوښ پر ځای څو ماشینه الوتکه ده او د سارو ان پر ځای یو مفشن طیاره وان څرنګه چه هر ادب د خپل عصر د ایجاباتو محصول دی او لکه چه موږ

(پاته په ۶ مخ کی)

اڅک

سقراط او د قانون اطاعت

کم وخت چی د یونان پر مشهور پوهاند او پیاوړی فیلسوف سقراط باندی د ځینو مخالفتونو په اثر د «آتن» د حکومت له خوا د اعدام امر سوی ؤ د نوموړی پوهاند شاګرد د سهار له وخته بندی خانی ته ورغی سقراط ته ئی وویل:

استاده! ما زندانیان پدې سره چی ستا ممانعت ونه کړی راضی کړیدی ته لدی ځایه څخه وبل پردی ښار ته ولاړ شه څو له اعدام څخه خلاص شی.»

سقراط تر یوه متحیرانه تفکر وروسته چی خپل تښتېدل ئی له بندی خانی څخه او د اصول او قانون پایمال کول لازم نه ګڼل خپل شاګرد ته ئی داسی غبرګون ورکړی.

«دا ناهنجاره عمل یعنی زښت بدفعل چه ته ئی وما ته اسرار او ما د هغه وکولو ته مجبوره کوی خو راډېر نقصانونه ماری چی زه ئی یو له هغو څخه تا ته وایم: زه پداسی وخت کښی چی له بندی خانی څخه بیله د حکومت له اجازی او د اصول او قانون د مقرراتو برخلاف فرار سم فرض ئی که چی د حکومت د اصول حقیقت د انسان په صورت شوی او له ما څخه سوال وکړی چی ولی دی د حکومت امر او قانون پایماله کړی له هغه مخالفت کوی؟ مګر حکومت او قانون پر تا کم ستم کړی دی؟ که ووایم چی هو!؟ را ته وبه وائی چی ته مګر نه پوهیږی چی ستا حیات او ممات زموږ دی!

دا قانون ؤ چی پلار دی ستا مور په نکاح کړی او په نتیجه کی ته په وجود راغلی نو ته او ستا ټول اجداد زموږ او زموږ بندګان دی او یا را ته ووائی که کوم وخت ستا پلار تا کمه څپیړه ووهی او کمه ښکنځا در ته وکړی که څه هم بی موجبه وی نو آیا ته به دده په مقابل کی ودریږی د ښکنځا پر ځای به ښکنځا او د څپیړی پر ځای به څپیړه ووهی نو ته را ته ووایه چی زه به په جواب کی څه ووایم شاګرد ئی په داسی حال کښی چی پر بڼه ئی پر خپلو خبرو باندی د پښی ماتی نښی ښکاریدی دا ئی وویل ستا خبری حق دی آه افسوس لرم چی تا ناحقه وژنی او په ناحقه سره نن د اعدام ډګر ته کشول کیږی سقراط په ډیر نرمی سره وویل ما خو تا ته وویل د حکومت او د قانون اطاعت مقدس دی نو ځښته زه پر ځان دا لازمه ګڼم چی د دې حکم د اطاعت پړی په غاړه کښی ځوړند کړم اما دا چی ته وایی چی زه افسوس کوم چی تا ناحقه وژنی نو را ته ووایه چی آیا تا میل درلود چی ما پر حق مړ او اعدام کړی څو په نتیجه کی ئی شاګرد مایوسه شوی له زندان څخه راووت په دریمه ورځ د سقراط د مرګ محاکمه شروع شوی او د زهرو جام په وچیښل شو دا وه د سقراط د قانون د اطاعت نمونه.

د ۵ مخ پاته

ادب باید اجتماعي...

په اوسنی عصر کی د توری په وسله سره د جنګ و میدان ته نه سو تلای دغه رنګه زوړ ادب هم زموږ ذوقی اړتیاوی نه سی پوره کولای او موږ په اوسنی عصر کښی یوه داسی ادب ته ضرورت لرو چی هغه زموږ د اجتماعی ژوند او اوسنی حیات ترجمان او ښکارندوی وی یا په بل عبارت باید زموږ د اجتماعی ژوند داسی پوره هینداره وی چی په هغه کښی موږ ټول خپل ځانونه ووینو او خپلی حقیقی بڼی و پیژنو او د اوسنی ژوند د مظاهرو څخه الهام واخلو..

د دې پر عوض چی د خیال مرغه د آسمان په ستورو کښی الوزؤ یا د سپوږمۍ سره د زړه خواله کووښه به داوی چی د یوه بزګر او خوارسړی په ژوند کښی داخل شو او د هغه د ژوندانه تابلووی تصویر کړو یعنی له آسمان څخه باید د واقعیت وغولی ته راشوه سو چی هم ادب په اوسنی تعریف سره خپل مصداق پیدا کړی او هم به موږ په اوسنی عصر کښی خپله وظیفه پر ځای کړی وی که زموږ ځوان فکره ادیبان دا کار وکړای شی خو دا به د دوی غټ بریالیتوب او لویه نیکمرغی وی.

ا-م کرزی

د تاریخ پاڼه

سردار محمد ایوب خان څوک ؤ؟

سردار محمد ایوب خان د امیر شیرعلی خان

دوهم توریالی زوی ؤ کله چی انګریزانو د دوهم محل د پاره پر افغانستان حمله وکړه په هرات کی حاکم ؤ دا بهادر سردار چی ۲۲ کلن ؤ د انګریزانو په مقابل کی د وطن د ساتنی د پاره په دلاوری وجنګیدی کله چی په ۱۸۷۹ع کال کی د جنرال (یدریک رابرنس په مشری ۶۴ زر و انګریزی لښکر و د پارچنار له لاری پر کابل حمله وکړه او د اکتوبر پر ۲۱ ئی و نیوی دده د پلار لښکر و د کابل څخه شمالی خواته ماته وکړه او پښتانه لښکر سره ئیت او پرک شول خو د افغانستان غمنتلی او وطن دوست ملت د هری خوا څخه د متجاوزینو مخه و نیول مشرقی، جنوبی، غزنی، قلات او د پښتنو په نورو برخو کی پښتانه زلمی د انګریز د لښکرو سره په مرګ جنګیدل څرنګه چی د پښتنو د دوهم جنګ په کتاب کی چی په لندن کی په سنه ۱۹۰۸ لیکل شویدی د دې سردار مړانه داسی یادوی:

سردار محمد ایوب خان په ۱۸۸۰ سنه کی د هرات څخه د غذا او جهاد په نیت لښکر د کندهار په لور راوخوځیدل د جون د میاشتی په اولو کی کندهار ته راوسیدل او د ده سره د غه منظمی قواوی وې:

[۱] د تاجک تاج محمد خان غنډ درې کابلی کنډکه هر کندک ۵۰۰ نفره ټوله ۱۵۰۰ نفره

[۲] د سیدال خان پیاده غند ۳ کابلی کنډکه او یو کندهاری کنډک هر کنډک ۵۰۰ نفره ټوله ۱۵۰۰ نفره.

[۳] د تاجک غفور خان پیاده غند ۳ هراتی کنډکه هر کنډک ۳۶۶ نفره ټول ۱۰۹۸ نفره.

[۴] د عبدالرحمن سپور غنډ ۳ کابلی کنډکه یو کنډک ۳۰۰ نفره ټول ۹۰۰ نفره.

[۵] د کابلی احمد ګل خان په افسری یوه توپخانه چی یوه غاطری غرنی بطری جمله ۱۰۰ نفره او څلور دښتی د آسانو بطری چی هره بطری ئی ۱۰۰ نفره ټوله ۴۰۰ نفره غیر منظم هراتی او درابی سپاره د محمد یوسف خان

سردار محمد ایوب خان غازی د میوند توریالی فاتح

او د کابل نادر شاه غنډ مشرانو تر اداره لاندی ټول ۲۰۰۰ نفره پدې ډول سردار محمد ایوب خان د ۴۱۰۰ پیاده ۹۰۰ سپورو - ۵۰۰ نفره توپخانه دهری رود څخه راپوری و تل څرنگه چی کپتن (کاسلی) د میرزا محمد اکبر خان څخه چی د سردار د لښکرو د لوزم مدیر ؤ داسی اطلاع

اخیسته شویده چی دوی د ۲۴ آسی د ښتی توپونه ۶ غاطری کوهی توپونو پنځه کنډکه مسلح کابلیان د انگلیسی توپکو سره او یو - ۵۰۰ نفری کندهاری کنډک او ۳ هراتی کنډکه د ۲۳۶ کندهاری توپکو سره چی د دوی سره د گرشک په حدودو کی شل زره نفره نور غازیان گډ شول .

د دې قواؤ عمومی قوماندان لوی ناب خوشدل خان ؤ میر محمد خان غنډ مشر خفیظ الله خان لوگری سلیمانخیل تاج محمد خان غلجی د نورو افسرانو سره چی د سردار خاص مشاوران وه .

پدې وخت کی د کندهار ښار انگریزانو نیولی ؤ او د انگریزانو د لښکرو عمومی قوماندان جنرال (بیوروس) ؤ او د دې جنرال تر اداری لاندی - ۱۵۶۸۶ نفره لښکر چی د افغانسان په جنوبی حصه کی وه د جنرال بیوروس غنډ مشر پر ۲ د جون و میوند ته واستاوه چی د هغه سره ۵۷۶ سپاره ۶۸۰ آسه چی د دوی افسران ډگرمن (کیودی) او کلنل (مالکمسن وه دوهمه ډله توپخانه ۱۰۹ نفره - ۱۱۹۱ - کسه ۱۲ توپه د ډگرمن (بلیک وډ) او کپتن (سلو د سره واستول دوهمه دسته پیاده د کلنل کلرټ په مشری چی د ۵۱۶ پیاده انگریزی عسکره او ۱۲۷۳ پیاده انگریزی عسکره چی د جنرال بورس قوا پدی ډول ۲۵۹۹ نفره ۲۷۴۹ آسه او ۱۲ توپو ته رسیدل دوی د میوند په میدان کی د پښتنو غازیانو سره په ۱۸۸۰ کال د جولائی پر ۲۸ مخامخ شول .

پدی جنگ کی د پښتنو لښکر د انگریزی لښکرو څخه لږ اسلحی درلودی د ډیرو غازیانو څخه توری سوټیان وه دوی په ډیره میړانه د انگریزی متجاوز لښکرو ته سخته ماته ورکړه .

****

ملاله څوک وه ؟

ملاله یوه پښتنه بهادره دلاوره پیغله وه چی پدې جنگ کی ئی تاریخی نوم کټلی دی که چی پښتانه د انگریز د مسلسلو توپو د فیرو څخه په خاوروه او وینو کی لغښتل او نژدې وه چی پښتانه ماوته خوری پدې وخت کی ملاله چی د پښتنو لښکرو سره په لومړی صف کی جنگیدل

ملی غرور او د پښتنوالی احساسات ئی په ښور راغلل او پښتانه ځوانان ئی په سوه ځنگو لنډیو د دښمن په مقابل کی پر غیرت راوستل د ملالی بهادری پیغلی لنډۍ داده :

که په میوند کښی شهید نشوی
خدای ږو لالیه بیننگی ته دی ساتینه

د ملالی په یاد

غازیانو چی د دې بهادری پیغلی داغیبی ملکوتی لنډۍ ترغوږو کیدی لکه زمری د خپل ننگ او ناموس د ساتلو د پاره پر دښمن و بهیدل، دا جنگ د سهار څخه ترما پښینه پوری دوام درلود .

د انگریز لښکرو د ډیر سخت مقاومت سره ماته وخوړل او د کندهار پر خواتر شاه راغلل او د میوند میدان فتح شو پدی جنگ کی ۱۲۵۰ نفره پښتنی لښکر او ۸۰۰ نفره پښتانه بهادر داوطلب ځوانان په شهادت ورسیدل او د دښمن تلفات ۲۱ نفره انگریزی مقصبداران مړه [نور په ۱۰ مخ کی]

منطقی

تجربوی علوم

امان الله «احمدی»

د تجربوی علومو موضوع دمادی عالم اوهر هغه شی چه تجربوی علوم باندی اتکا لری دمادی څخه عبارت دی .

کله چی د صوری منطقو مؤسس ارسطو خپل اورگانون نومی کتاب دمنطقو په باره کی ولیکی اودلمړی پلا د پاره ئی د منطقو علم چه د مخه دفلسفی سره گډ اودجدل مناقشی اوسفسطی په عنوان باندی مطالعه کیدی دفلسفی څخه جلا کی نوداکتاب تر شپاړسم قرن پوری دمراجعی اودتفکر محل وگرزیدی وختی چه بیکن او «دکارت» معروفو عالمانو ظهورو کی دیوه طرفه داستهشاداصول بدتاثیر .

دکارت

پرکړی اوځینی متنفرشوی اودبل لوری ورڅرگنده سوله چه یوازی ددی منطقو غایه دمعلومومقدمو څخه دمجهولو اصولو کشفول دی اوځنگه چه داقواعدد ټولو علومو د پاره کفایت ونه کړنوئی ویله چی باید نوی اوپوره دساتیر په منطقو کښی وضع شی چی دتمامو علومو په مختلفو موضوعاتو کښی تطبیق اوویوی معینی موضوع ته مخصوص نه شی نو دغه خبره ده چی بیکن خپل دری گونی لوحی دحضور غیاب او درجه په نومونو وپاندی کوی اودکارت د استقصا اصول چی بداهت ئی ډیر اهمیت پیدا کړی وما بین ته راوړی اوپه همدغه وخت کښی دستوارت میل دطرفه دبقایا، تخالف، مترافق اوتحول اصول وضع کیږی چی دبیکن لوایح ورتائیدوی .

په تجربوی علومو کښی دوه دستوروونه چی اکثره وختونه په کار باندی لویږی تحلیل او ترکیب علمونه دی چی پدی دستورونو کښی دکارت له خپل مهارته څخه کاراخیستی دی او دده زیاراوکوښښ ؤچی ددغو علمو په ذریعه ئی د استشهاد اصول له مابینه وړی اوخپل ځان اوبیکن ته چی علمیت ئی پر بداهت مشاهده اوتجربه استوار دی دلو ړنوم گټل ورپه نصبت کړه که څه هم له دوی چپه نوزو عالمانو ځینی نوری قاعدی هم کشف کړی دی خو مگرد دوی قاعدی دستاینی وړ اودهر چاد قبول مورد گرزیدلی دی .

علاوه پردغه ددی دوو قاعدو داختلاطه څخه عالمانو ځینی داسی نور پرنسیپونه وما بین ته راوړی چی نن ورځ د تجربوی علومو دموضوعاتو دا ثبات او تطبیق دپاره پوره کافی بلل سوی اوددغو په واسطه تجربوی علوم په کامیابانه ډول ومخ ته وړل کیږی .

په پورتنیو لیکو کی دا وویل شوه چی دتجربوی علومو سروکار مشاهدی تجربی اویامادی سره دی اوهر هغه علم چی دروح اودهنی فعالیت سره سرو کار لری غیر تجربوی علوم شمیرل کیږی پس نو پدی صورت دتجربوی علومو غایه دحوادثو په مابین کی دقوانینو کشفول او څه اصول چی په تجربوی علومو کښی په کار لویږی فرضیه تجربه او مشاهده ده .

مثلاً یو عالم چی په هوا کښی دیو شی وایله کیدو ته متوجه کیږی دی دیوه شی راکښته کیده او ایله کیده خامخا د فرضیی تجربی او مشاهدی له نقطیه نظره مطالعه کوی او د اعلم اولی تصور چی د یوی حادثی په باره کی ئی کوی فرضیه عرضوی او چی د یوی حادثی وموضوع او شکل ته ئی تغیر ورکړی ندی د مشاهدی حالت چی موضوع او شکل تغیر وخوری د تجربی حالت ئی بولی مثلاً که ووایو چی او به مرکب دی فرضیه، او چی لا تجربه سوی نه وی مشاهده او وختی چی تجربه ئی کی نو د تجربی حالت اختیار وی پس او به خامخا د تجربی وروسته چی پر هیدروجن او اکسیجن وویشلی سوی د هغو وموضوع او شکل ته تغیر ورکړ شو او مرکب په ساده او واجب په ممکن واړول سو بله قاعده چی په تجربوی علومو کښی ورځنی کار اخلو د استقرا اصول دی چی د جزئی قوانینو څخه مو وکلی قوانینو او یا ویوه کلی مفهوم ته کشوی او دا ځکه چی لمړنی نظام یراخ او وسیع او مشاهدی او تجربی تر جلو لاندی راتلای نه شی نو ځکه فرضاً د ځنو حوادثو له مابینه یوه کلی رابطه او مثبت فکر راوباسو ځینی له حوادثو څخه مطالعه کو د دهغه د صحت د اثبات د پاره یوازی د هغو څو حوادثو په مشاهده او تجربو کولو اکتفا کوو مګر د ااصول موږ اکثره وخت د غلطیو سره مخامخ کوی چی هغه کلی قانون چی له څو حوادثو د لیدلو څخه راپه برخه کیږی پر هغو ټولو د تطبیق قابل نه دی مثلا پخوا خلقو چی تمساح لیدلی نه ؤ نو ئی د ځینو حیواناتو د شخوندو هلو څخه یو کلی قانون را ایستلی ؤ چی ټول حیوانات شخوند وهونکی دی مګر وختی چی تمساح ئی ولیدی د دې کلی قانون د غلطی سره مخامخ او پر هغه تطبق سو.

پس د دې نقیصی د اصلاح د پاره باید تجربی متعدد دی او د هغه د عکس څخه کار وا خیستل شی څو چی پر حقیقت موفق او مثبت شی فکر را حاصل شی.

(د ۷ مخ پاته)

سردار محمد ایوب خان ...

۸- زخمیان ۱۳۰۳ نفره مړه د (۱۷۵۵) نفره زخمی ۲۰۱ آسان مړه او د دښمن د اسلحی تلفات ۱۰۰۰ توپکه ۷۰۰ کریچه ۶۶۱۰۰۸ ګولی ۴۸۷ اوښان -۶۷۶۱- یا بوګان ۵۵۳ غاطری ۴۳ غوائی ۷۹ خره ۲۵۵ ترانسپورتی عمله د دی کتاب په ۳۸ صفحه کی داسی راوړل شویدی د هندوزیر په سنه ۱۸۸۱ د مارچ پر ۲۱ د دی جنګ مصارف د انګلیستان و پارلمان ته پدی ډول وړاندی کړل چی ۱۸۸۱ کال د می تر ۲۱ پوری ټول د دی جنګ مصارف ۹۱ ملیونه ۵۰۰ پنځه سوه پونډه او ۳ نیم لکه هندی کلداری وی.

مترجم م (مین)

د ۱۱ مخ پاته

پطرول څرنګه...

لری او په عراق کښی هم د تیلو چنی سته چی د نلونو په واسطه د روم بحیری ته بیول کیږی، په سعودی عربستان کی هم تیل سته چی د استخراج کار ئی د یوې امریکائی په تصرف کی دی.

بیله د غوځا یو څخه ذکر شول برما او اندونیزیا هم د تیلو چینی لری جاپان لږ تیل لری او خپلی اړتیاوی ئی نه پوره کوی.

استرلیا تیل نلری او په افریقا کی هم د تیلو ذخایر چندانی په زړه پوری نه دی بیله مصره څخه په عمومی نظر د تیلو صادرونکی ممالک مکسیکو، اندونیزیا، جنوبی امریکا، ایران، شوروی اتحاد برما دی او هغه مهم ممالک چی تیل وارده وی انګلیستان هندوستان، کانا ډا او اروپائی ممالک دی.

له انتر مدیت مکرتسل جیوگرافی څخه

مترجم عبدالباری

پطرول څرنګه پیدا کیږی

دپطرولو معدن لکه دډبری سکاره اکثره په رسوبی غونډیو کی پیدا کیږی .

دپطرولو دجوړیدو منشا تر اوسه پوری یوه اختلافیه مسئله ده بیاهم دډیر و معدن پیژندونکو نظریه داده چی دنباتی موادو ذخایرو څخه تشکلیږی نباتی موادچی تر ریکو لاندی شی نو پسله ډیره وخته دتیلو معدن ځینی تشکلیږی پسله هغه چی دتیلو معدن کشف سی دستی داستفادی وړ نه دی بلکه دغه معدنی مواد په فابریکوکی تر تصفیی لاندی نیول کیږی اوله هغه څخه علاوه پر پطرولو ډیزل قیراو دتیلو نور اقسام جلا کیږی .

دپطرولو فائده چی یوځای لږ نیسی او بل ماشین پاکساتی اونه ئی خرابوی اوحمل نقل ئی هم نسبت وسکروته اسانه دی حال دا چی دډبری سکاره داصفات نه لری .

سربیره پردغه هغه موادچی ددوی دتصفیی څخه لاس ته راځی هر یوئی پخپله ډیرا همیت لری مګر نقص اوعیب ئی دادی چی دتیلو دمعدن تشخیص اواستخراج نسبت دسکر وو معدن ته ډیر زحمت اوزیات مخارج غواړی اوحتی جیولوجستان اومعدن شناسان هم نسی کولای چی نه ترادهغه صحیح مقدار تعیین کی ځکه ډیر داسی واقع شوی دی چی د تیلو چینه پسله لږ مودی څخه وچه شوی ده بل عیب ئی دادی چی دپطرولو ساتل نسبت وسکروته ډیر احتیاطه غواړی ولی چی اوراو او به چی دژوند دضروری احتیاجاتو څخه دی دپطرولو قوی دښمنان دی او به ئی ماهیت ته تغیرورکوی او اورئی سوه ځی او بربا ده وی یی .

دنړی دتیلو مهمی چینی

دمخه تردی چی دتیلو داستخراج مهم منابع وپیژنو باید پوه شو چی بیله شوروی اتحادی اوجاپان څخه چی په خپله ئی تیل را کښلی دی دنوری ټولی دنیا تیل د امریکا، انګلیستان اولږد فرانسی په سرمایه راکښل شویدی او پخپل وخت کی ددغه کار دپاره دری لوی شرکتونه کار کړیدی لکه سټینډرډ ایل کمپنی داتازونی په سرمایه اورایل ډچ شل کمپنی دانګلیستان اوهالیند په سرمایه اوانګلو ایرانین کمپنی د انګلیستان په سرمایه .

دتیلو منابع په امریکا کی

په امریکا کی دتیلو داستخراج علاقی خورا ډیری دی چی یوازی دا ظلاع متحده دتیلو دمنطقو تعداد څه دپاسه و۷۰۱ ته علاوه پر دغه په مکسیکو کاناډا او جنوبی امریکا کی هم دتیلو چینی سته .

اروپا

اروپا په عمومی نظر بیله روسی څخه په پطرولو کی فقیره ده یوازی دتیلو مخزنونه په پولیند او رومانیا کی سته په جرمنی کی هم لږ پیدا کیږی او انګلیستان ئی نه لری روسیه په اروپا کی ډیر تیل اوزیات ذخایر لری او پسله اتازونی څخه په تیلو کی د دنیا دوهم درجه هیواددی مهمی چینی ئی په باکو کی چی د شوروی دبحری بندرو څخه ئی دد اخلی مصرف یا خرڅولو دپاره صادروی .

آسیا

په آسیا کښی د جنوبی ایران (آبادان) تیل لری چی په منځنی شرق کښی ډیر اهمیت

(پاته په ۱۰ مخ کی)

«ارشاد»

کوښښ

شیوه د سعیی په ژوند کښی له دربار ه زده کړه
بی ثباتی د دې جهان هم له حبابه زده کړه
په سرکی شور په زړه کی او رستر گی له اوښکو ډکی
رنګ د طوفان لرل له موجه د سحابه زده کړه
په سوز ګداز کښی تبسم له حال د شمعی ځنی
د خار او خس په جفا صبر له ګلابه زده کړه
اسره د ګل کاندی هغه چی سوز د عشق نه لری
مزه د مینی د پتنګ د عشق له بابه زده کړه
پیښو ته تن ور کول زړه لکه سندان نبولی
سرګردانی په دې جیحون کی له ګردابه زده کړه
ژړا فریاد د زړه له اوره لا لمبه زیاتوی
په ښه دقیق نظر د غه راز له کبابه زده کړه
په کوښښ نه شی میسر خاوری دیار د پښو
نارسایی دلته د زلفو له طنابه زده کړه
هلته به وصل شی مرادته په اسانه سره
که تواضع دی په رفعت کښی له رکابه زده کړه
چی همت لوړوی وړو کتوب مانع د سعی نه شی
د اعتلا راز د ذری له ډیر شتابه زده کړه
تنهایی نه ګرځی مانع د ارتقا د پاره
په یک تنها صورت شاهی پاس له آفتابه زده کړه

منثور شعر

پوهنوال رشاد

دزړونوغل

آه دزړونوغله!!! ته تل په تورو تیارو کی کوګلو نه لوټوی ځکه دی دزړونوغل بولم ..
داسوړ زړه می څه کاوه ؟؟ په دردمی نه خوړښه ؤ چی یو دی وی!!!
اماویش ته تیرو تلی !! ځکه چی تاخپل ټول زیار دخوشومړو وینو دیوه ساړه غټی په غلا باندی ولګاوه- ولاړ رنګ به دی پری بدشی -
تش دومره شو چی ستا دوړوزړو په امیل کښی ئی یو شمیر زیات کړ نورنو هیڅ توښ او رنګینی نه لری .



کله چی په هغه خوشی مړه زړه پسی ګرزېدم دشپی په تیاره کښی پریوه تاوده ژوندی اوله سوزه ډک زړه پیښ شوم یقین لرم چی دا به هم ستا څخه لویدلی وی ځکه چی دهغه دیواله سیوری ته غلی پروت ؤ چی پرڅو که ئی ستا پښو کرښی دوراڅرکی .

آه دزړونوغله!!!
ستادی وی که به داراڅخه غلا کوی پرما ډېر ګران دی، ستادی وی ستادی وی!!!

افکار

دسړی دلیاقت ښکاره کیده لکه میوه خپل موسم لری .

«لاروشفوکوله»

تجربه یوه ګرانبها سرمایه ده پدی شرط چی کارځنی واخستل شی .

«لامون»

ترهغه بل بدبخت ترڅوک نشته چی په ژوند کی هیڅ کله په کومه بلا اومصیبت نه وی ګرفتار شوی.

«جرمی تیلور»

بدبختی د ناتوانی څخه نده بلکه د نه ارادی څخه ده

«ویکتورهوګو»

ډیره کوچنی واقعه موږ دډیرلوی حقیقت سره مخامخ کوی.

« دکتر ماردن»

که انسان خپل ننی یا پرونی اوسبائی غمونه پرځان باندی کو ټه نکړی په ژوند کښی چی هر بار ته اوږه ونیی په آسانی سره ئی تحمل کولای شی .

«هامرلینک»

نیکی یو داسی شی دی چی ترهرڅه دمخه خلک خلع سلاح کوی.

«لاکوردر»

قهر په لمړی سر کښی لیونتوب او په آخر کښی پښیمانتیاده.

«منوچهر»

صحرا دغم شوه راحت ګاه دلیونو دباره
راحت دځان همیش دعقل له ذها به زړه کړه
ویښ توب په ژوند کی شی بلا راحت له خلکو یوسی
په دی جهان کښی اسایش راشه له خوا به زده کړه
نیاز دزړه دلفظ له نازه مستغنی ښکاریږی
په پټه خوله راز دمعنا ؤ له کتا به زده کړه
هره خبره چی له زړه نه وی اعجاز ګانه شی
اثر دشعرد وینا له آب وتا به زده کړه

د عبدالحمید عبدالله په قلم

مترجم نجیب

محمد عبدالغفار الهاشمی الحسینی القندهاری

هو حضرت الاستاذ الفاضل المحترم استاذ اللغة الافغانیة والفارسیة وخریج الجامع الازهر الشریف اسید الشریف [محمد عبدالغفار] الهاشمی الحسینی الافغانی المولود فی [۱۳۲۵ه] بمدنیته [قندهار] بافغانستان وقد اشترک فی جهاد الاستقلال فی [۱۳۳۷]ه ثم الثورات الداخلیته من [۱۳۴۵-۱۳۴۹]ه ثم اتخذ العلم طریقا وارتحل الی الهند فی [۱۳۵۱]ه ثم الی بغداد والشام وفلسطین ودخل مصر فی [۱۳۵۵] ه فی الجامع الازهر الشریف وتفرغ للتحصیل ثم اخذ الشهادة الاهلیته العلمیته الازهریة فی [۱۲] من شهر شوال سنه [۱۳۵۶]ه ثم توجه الی تألیف الرسائل العلمیته المختلفته ثم اخذ الشهادة العالمیته الازهریه فی [۱۳۶۲]ه فانتدبته مشیخة الازهر لتدریس اللغة الفارسیة باصول الدین وهو بن السید محمد ولی الله الهاشمی [۱۲۶۷-۱۳۲۰]ه وکان وزیر الحرب للامیر محمد ایوب خان فی غزوة [قندهار] بمیوندا بن السید محمد جمیل الله [۱۲۵۷-۱۲۶۵]ه ابن السید محمد حمید الله امیر المدنیة المنوره فی ثورات عصر الشریف (غالب) امیر الحجاز وهاجر الی افغانستان وسکن ببلدة (کنر) واستشهد فی الجهاد (بخورد کابل) فی سنه [۱۲۵۸]ه

ترجمه :

محمد عبدالغفار الهاشمی الحسینی القندهاری

فاضل استاد او دازهر د جامع د پښتو او فارسی ژبی ښوونکی محمد عبد الغفار الهاشمی الحسینی القندهاری په ۱۳۲۵ه کال د افغانستان په کندهار کښی زیږیدلی دی په ۱۳۳۷ کال کښی د افغانستان د استقلال په جګړه او په [۱۳۴۵-۱۳۴۹]ه کال کښی ئی دهغه مملکت په داخلی انقلابو کښی برخه اخیستی ده بیائی د علم وتحصیل ته ملاوتړله په [۱۳۵۱]ه کال کښی هند ته او پسله هغی بیا او بغداد-شام او فلسطین ته ولاړی په [۳۵۵]ه کال کښی مصر ته راغی او دازهر د جامع ته داخل شود [۱۳۵۶]ه کال د شوال پر دولسمه ئی د الاهلیه العلمیه شهادت نامه واخیستله په دې وخت کښی ئی د مختلفو علمی رسالو تألیف ته توجه وکړه په [۱۳۶۲]ه کال کښی د العالمیه الازهریه بری لیک واخیستی په [۱۹۶۴]ه کال کښی د ازهر د جامع د فارسی لغاتو د اصول دین استاذ شو پلار ئی سید محمد ولی الله الهاشمی نومېدی چی په [۱۲۶۷-۱۳۲۸]ه کلونو کښی د میوند په غزا کښی د امیر محمد ایوب خان د حربیی وزیر ؤ نیکه ئی سید محمد جمیل الله [۱۲۵۷-۱۲۶۵]ه او ورنیکه ئی سید محمد حمید الله نومېدی چی د مدینی منوری امیر ؤ او د حجاز د امیر شریف غالب د انقلاب په وخت کښی ئی د افغانستان ته هجرت وکړ او د هغه مملکت د کنړ په ښار کښی ئی استوګنه غوره کړه چی په [۱۲۵۸]ه کال کی د (خورد کابل) په جګړه کښی شهید شو.

(نور په ۱۶ مخ کی)

د نظام الدین (برکی وال) څیړنه او لیکنه!

سوفسطایان څوک وو؟

په پخوانی یونان کی یوه ډله فلاسفه او سیدل چی نه ئی کوم تشکیلات لرل او نه ئی مکتب او مدرسه درلوده چی کوم اساسی کړ نلار دی ولری. دا فیلسوفان د سوفسطایانو په نامه یادیدل په یونانی ژبه کی (سوفیسما او سوفیزا) د تعلیم اوزده کړی معنی ورکوی او د (سوفوسل) کلمه هم د عقل او پوهی په معنی راغلی دی فلاسفه وو چی سوفیست نومیدل د سقراط او افلاطون څخه ئی مخ کی ژوند کاوه چی مکتب ئی یو څه وروسته د (سوفیسم) په نامه یاد شو.

د (سوفیست) کلمه په پخوانی یونان کی لمړی ځلی د یوه سړی حکیم او مخصوصاً فیلسوف باندی اطلاق کیده. او دا کلمه د یوه ارزښت او اعتبار علامه وه څوک چی به په دی نامه یاد شو نو ډیر احترام او قدر به ترکو به خلکو ور ته کتل.

خو څرنګه چی سقراط او افلاطون منځ ته راغلل د سوفسطایانو حالت او حیثیت د بحران سره مخامخ شو. په دی ډول چی سقراط او افلاطون پر دوی د تعلیم په مقابل کی د خلکو څخه د معاش او مزد اخیستلو په هکله سخت انتقادونه وکړل او د دوی د اعتبار او حیثیت په ورانولو کی ئی موثر او با ارزښته رول ولوباوه نو همدغه وجه وه چی سوفیت خپل پخوانی اعتبار له لاسه ورکړ او وروسته تر هغی د (سوفیت) کلمه د خلکو د تحقیر لپاره استعمالیده او په هغو کسانو به د (سوفیست) اطلاق کیده چی د مغالطی او سفسطی له لیاری به په بحث او خبرو کی پر مقابل لوری بریالی کیدل.

د سقراط او افلاطون مخالفت د سوفسطایانو سره په دی ټکی کی ؤ چی د سوفسطایانو به د تعلیم او تربیی او د علم او فلسفی د زده کړی په مقابل کی د خلکو څخه اجوره او پیسی اخیستی. افلاطون او سقراط به ویل چی علم او پوهه د خرڅلاو د پاره نه ده او باید خرڅه نشی.

سوفسطایان چه نسبت و نورته پوهان او عالمان وه په ښاروالو کی به ګرزیدل ترڅو چی شاګردان پیدا کړی او د پیسو په بدل کی علم و رزده کړی، خو د هغو نی مخالفیو به ویل چی دا کار په پای کی علم او فلسفه دا شراف او ثروت د خاوندانو په انحصار کی راوړی نادارو او متوسطو ګړی د هغو د زده کړی څخه محروم پاته کیږی.

د سوفسطایانو څخه لمړ نیو فلاسفه وو خپل وخت د طبیعت او آسمانو او ستورو او د مځکی د کری د موجوداتو په تحقیق پرته د انسانانو څخه تیر او خو د و همه ډله فلاسفه چی سوفسطایان وو خپله توجه ئی د کائیناتو څخه وانسان ته معطوف کړه. لکه څنګه چی پروتاګوراس چه د پنځمی پیړی له فلاسفه وو څخه دی له لمړ نیو سوفسطایانو څخه شمیرل کیږی دی وائی چی انسان د ټولو اشیا و و مقیاس دی.

د ریمه ډله فلاسفه له سقراط، افلاطون او ارسطو څخه عبارت دی د دوی کوښین وکړ چی طبیعت او انسان د واړه په یوی کاملی فلسفی دستګاه کی سره راغونډ کړی او د دواړو روابط وڅیړی. په عمومی ډول سوفسطایان له هغو فلاسفه ؤ څخه عبارت وو چی نسبت وخپل زمان ته خورا پر مخ تللی وو او د عقل او پوهی له لیاری ئی د ډیرو مسایلو تفسیر کاوه.

ځینی د پخوانی فلسفی مبصران وائی چی د شکا کانو او کلبیانو مکتب وروسته له دی جریانه متاثره شو او په هغوی کی ئی افراط او مبالغی ته لارور کړه.

د فی عالم الرؤیا له عربی کتابه څخه

لیکونکی جبران خلیل جبران

مترجم ع «ن»

د شاعر مرګ

کله چی شپی خپل تور څادر پر ښار وغوړاوه او واوری سپین قمیص په واغوستی انسانانو له یخنیو څخه ماته پیدا کړه او له بازارو څخه په کورو ننوتل.

پدې یخه څله کی چی مرغه پر ښاخ وچیدی دیوه کلی دیوه محقر کور په تنګه خونه کښی چی د واوری د ثقالت په اثر سره ئې زاړه دیوالونه ونړېدو ته نیژدی وه پر زاړه بستر باندی یو نامراده ځلمی چی اخیرنی سوګلی ئی وهلی او د مرګ ظالم لاس ئی په ډېره بیرحمی سره داندا موسیک ایستلی ؤ او ږد، او ږد غزېدلی ؤ وسرته ئی یو تاریک څراغ بل ؤ چی دده پر نامرادی او ځلمیتوب باندی ئی د حسرت تودې

او ښکی تویولی ښکلی ځلمی به (چی تا به ویل ملکه د انسان په بڼه شویده) خپلی ملالی سترګی یو وار د څراغ وخواته واړولی او بیا به ئی ژر د نتلی زړه د بوټو ارمانو زړې خاطری ور په زړه شوی او یو سوړ اسویلی به ئی له خولی څخه وایستی د هغه خوږ ژبی شاعر ؤ چی په خوندورو شعرونو ئی مړه احساسات

ژوندی کول او د انسانانو غمجنو زړو ته ئی فرحت او خوشحالی بخښله مګر افسوس چی اوس د بیدرد و انسانانو په منځ کښی وږی مری او بیله مړ ژواندی څراغه څخه بل مؤنس نه لری

د نړی له متنوعو نعمتونو څخه ئی څکه ونکړه او د ژوند بهار ئی ژر په خزان بدل شو - دی د قدرت د بڼ بلبل او د مال و هستی د حصول په لار کی خپل د نفس عزت تر پښو لاندی نه کړ او نه ئی تر

انسانانو ځان لوړ او د خدای مخلوق ته ئی په کښته سترګه وکتل لکه څنګه چی د قدرت مجادله د شعر و شاعر له عالم سره له لومړی سره روانه ده نو له همدی لامله د ځلمی شاعر پر خپلو خواهشاتو باندی بریالی نشو او ژر د سپڼلی غوټی په څیر سره ورژېدی.

دغه د نړی د بڼ خوش آوازه بلبل د سرای وانګړته د هڅی په امید خپلی ټولی قوادی سره

جمع کړی او لاسونه ئی پورته کړه وچ د نوه وتلی باڼوګان ئی سره وځمله چی تا به ویل غواړی د بڼو مژګان په پستو غشو سره د خونی پورته چت سوری او د آسمان روڼه ستوری و وینی په دغه

حال کښی ئی په ډېره ناامیدی سره د خپلو غمجنو خاطرو د تذکر په ترڅ کښی دا وینا تر خولی و وتله زه خود - لایکو ترجمان وم چی انسانانو ته می د هغوی د مرموز و وینا و ترجمانی

نور په ۱۷ مخ کی

د ۱٤ مخ پاته

محمد عبد الغفار الهاشمی ..

د محمد عبد الغفار الحسینی الهاشمی القندهاری تألیفونه

«۱» تاریخ الافغان
«۲» روح الاسلام
«۳» القاموس الفارسی والعربی
«۴» القواعد الفارسیه
«۵» القاموس الافغان
«٦» ابتهاج العشاق
«۷» اصول الادیان
«۸» قبلة الامم
«۹» ائمه الهدی
«۱۰» التفته الفار وقیته فارسیته
«۱۱» القنبله الزریه فی الاسلام
«۱۲» الجهاد فی الاسلام
«۱۳» مطائب الابتسام
«۱۴» السهام الغفاریة
«۱۵» الدخان

کوله دویرجنوسره به می
دغم کوربل واهه او داسکیرلی
یتیم پرسربه می درحم او
عاطفی لاس تیر اوه مګر
افسوس چی زمانی زما سره

هیڅ وفا ونکړه او قدرت
دهومره ستونږو دتحمل په
بدله کښی دغربت او مفلوکیت
برخه رازیاته کړه مرګه ژر
راسه او دژوند داسختی چه

فطرت زما په نصیب کړیدی
را باندی اسانه کړه .
مرګه ! ما دخپل عطوفت
په پسته غیږ کی ټینګ ونیسه
ځکه چی ما دمور پسته غیږ
او دپلار مهرو محبت لاس

ندی لیدلی بی خسمانی
او بی مؤنیسه خپل عزیز روح
وتاته په دې شرط تسلیموم
چی زما دځکندن وفرش ته
هغه فرشته را حاضره کړه چی د
واوری په څیر سپین کالی

ئی اغوستی او دزیبقو هغه
ګل ئی په لاس کښی وی چی
دپورته عالم په ځنګلو کی
شین شوی وی داسی بی مخی
ښځه زما سره غاړه په غاړه

کړه چی زما دنوه وتلی
پوټی سترګی ئی پرخمارو
سترګو روڼی او دسروشونډانو
په موچولو سره مې ځلبلانده
زړه ته تسکین پیداسی ددغو

ویناؤ په ترڅ کښی یو واری
د هغه ځوانمرګ شاعر
سترګی واخستلی شوی او
روح یی دملکوت وعالم ته

والوتی -
دیخی سیلی سوړ باد ته ددې
ماتم دهنګامی په قیام سره قهر
ورغی دشاعر ددفتر پاڼی ئی
سره متفرقی او دخونی په هر

ګوټ کښی ئی وپاشلی او هغه
مړ ژواندی شم ئی مړ کړ .
دښارو ګړی په خواږه خوب
بیده وه او دې غم دصحنی په

برپایه کیدو سره یو هم خبر نه ؤ
کله چی سهار راویښ شول او له
سترګو څخه ئی دغفلت پردې
لیری شوی یعنی دمعرفت روڼ
لمر پرراوختی دنامرا دشاعر
په یادئی په عمومی واټونو کی
دهغه تمثالونه جوړ کړه او د
هر کال تلین نیولو په صدد کی
شوه .

آه انسانان څومره بی درده
او ناخبره دی .

مترجم «ن»

ابراهم لنکولن

د ابراهم لنکولن دزوکړی
نېټه ۱۸۰۹ عیسوی سنه ده پلار ئی
یو غریب نجار ؤ چی دشپی پریوه
ګوله ډوډۍ باندی ئی قدرت
نه درلودی مور ئی خور احساسه
او دلوړ همت څښتنه میرمن وه چی
دده د تعلیم او تربیی په لار کی
ئی ډیر کوښښ کړی او دوطنیت
پاک احساسات ئی په رګو کښی
ورتزریق کړه (مسټر بورس)
وایی ، ابراهم لنکولن چی د
ټولی امریکا په مړه جسد کښی
ئی دروح حیثیت درلودی په خپل
ژوند کی ډیری دربدری او لوږی لیدلی

دی یعنی دفقر په پیسو سره به ئی
کتابونه رانیوله او هغه
به ئی دشپی دلرګو وروښنائی
ته مطالعه کوله دواشنګټون
او هر کلی دسر ګذشت
احساسات پاڅونکی کتابونه
ئی هر وخت مطالعه اوله
هغوی څخه ئی دخپل فکر
او عزم دتقویی الهام اخیستی
وروسته تر دوولسو کالو
کښته ګری او دوو کالو
کتابت وسیاست ته ورشیوه
شو یعنی دسنا دمجلس د
غړیتوب چوکی ئی اشغال
کړه و ورپسی سمدستی
دریاست جمهوری چوکی
ته جګ شو . پدغه وخت کی
ئی سره له دومره جاه جلاله
خپل دفقر او نیستی حال
لخوا وخاطره څخه ونه ایستی
دی په خپله وایی دهغه
مریی خرڅولو دردناکی
منظری حلق تلخی او تأثر
دژوند تر پایه پوری زما په
وجود کی باقی ؤ نو ځکه
می فوراً دبرده فروشی
منحوس اصول لغوه او د
خلقو د بدبینی اسباب می
ځانته غونډ کی . تاسی
انصاف وکی چی په ژوند
کی دبل تر محکو مولولا
بل بی انصافه او نا انیتانه
کارسته

لنکولن د ۱۸۶۵ سنی د
اپریل پر ۱۵ نېټه باندی دیوه
نالایقه خاین دفیر په اثر
سره مړ او په ټوله ملت ئی
دغم کوربل وواهه .

سخن مجلې ته

یوه کتنه

عبدالرحمن بلوڅ

د سخن میاشتنۍ مجله چې په ایران کښې خپرېږي په خپله نهمه ګڼه کې د (بلوڅ او بلوڅي) ترعنوان لاندې د ښاغلي علي اکبر جعفري په قلم یوه مقاله خپره کړېده، او په دې مقاله کې نوموړی لیکوال ډېر غورځي پرځي وهلي دي.

ښاغلي جعفري ډېر تاریخي حقایق هم بیان کړېدي مګر کوم وخت چې سړی تاریخي حقایق بیانول غواړي نو ورته ښایي چې یوازې تاریخ ته ګوته ونیسي او خپل احساسات پکښې داخل نه کړي.

زه غواړم چې ددغه لیکوال تحقیقات او څېړنې مؤرخینو ته وړاندې کړم او به کره نظر ورته وګورم.

له آمونه تر عربه [۱] — دی شریك د ننګ په کار
زور ګیرانو ماته وکړه — که سکندر و که تاتار
ددوی توان او واك له لاسه — شهنشاه نه و قرار
سره ګډ د ننګ په کار دی — د تاریخ په ټول اد وار
دوی په اصل پښتون بلوڅ دی — نه مغل دی نه تاتار
دی زامن دیوه پلار — د آریان لهلوی تبار

د نوموړی لیکوال په عقیده بلوڅي ژبه د ایران په هیواد کې پیدا شوې ده او دده په اصطلاح دهغه ځای مال دی او له ایران څخه بیا نورو ځایونو ته تللې ده او څېړنکه چې دده په مقاله کې راغلې دي «بلوڅ ساده او ساده دل» خپل اصلي هیواد هیر کړي دي. خو ښاغلي دې ته نه دي ملتفت چې د بلوڅي ژبې په برخه کښې د ډېرو پوهانو محققي او مستند نظریې موجودې دي چې دادې په وروسته ډول ګرانو لوستونکو ته وړاندې کیږي:-

بلوڅي ژبه او د پوهانو نظریې:

(۱) استاد حبیبي د پښتو ادبیاتو په تاریخ کښې لیکي چې بلوڅي ژبه د آریایي ژبو په ناپارسو (NON-PARSIC) کورنۍ یعنې زندپوري اړه لري چې پښتو هم اساساً له دغې کورنۍ څخه ده. [۲]

(۲) پروفیسور سر، ای، جي ګریرسن وایي: «له هغوژ بو څخه چې مونږ یې ناپارسو بولو او د میدیك ژبې اطلاق هم پر کیدای سي د پامیرژبې دي چې په هغو کښې پښتو، بلوڅي، غلچه او ورمړي شامل دي». [۳]

---

[۱] (بحیره عرب)
[۲] د پښتو ادبیاتو تاریخ استاد حبیبي لومړی ټوك ص ۳۷
[۳] د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوك

(۳) نیجر جورج د بلوڅي ډکشنري په سریزه کښې وایي چې بلوڅي ژبه د هندي او ایراني ژبو د اتصال کړۍ ده او د دغې ژبې د پرمختګ ځای بلوچستان دی دغه راز نوموړی وایي چې د عربي ژبې تاثیر په بلوڅي کښې خورا لږ دی او نسبت و نورو همسایه ژبو ته د عربي لغات په بلوڅي کښې کم دی. [۱]

(۴) د برتیانیکا دایرة المعارف لیکي چې بلوڅي ژبه تر پخواني پاړسو نه لا پخواني ده او دا ژبه د پاړسو له ډیالکټونو څخه نه ده پیدا شوی بلکه د دې ژبې او اوستا ترمنځ نژدې اړیکې شته مګر په دې کې هم شك نه شته چې په دې ژبه کښې د فارسي، عربي او پراکرت اثر لږ و ډېر لیدل کیږي [۲]

(۵) د بلوڅي میاشتنۍ مجله د ۱۹۵۶ کال د جولایي د میاشتې په ګڼه کښې د بلوڅي ژبې د مختلفو لهجو د پرتلنې په ضمن کې وایي چې بلوڅي یوه آریایي ژبه ده او کوم تاثیر چې نورو آریایي ژبو یو پر بل کړی دی دغه ژبه هم له نورو آریایي ژبو څخه متأثره شویده. [۳]

(۶) دغه راز د اؤلس مجله لیکي: د ځینو خیال دی چې بلوڅي د پاړسو بدل شوی شکل دی، مګر حقیقت دا دی چې بلوڅي یوه بیله ژبه ده، البته دا به سړی ومنی چې د ایراني بلوچستان او د ایران سرحدونو ته نژدې او سیدونکو بلوڅانو په ژبه د پاړسو لږ و ډېر آثر شته او په شرقي بلوڅانو د پاړسو په ځای د همسایه ژبو لکه سندي او سرائیکي ژبو آثر لیدل کیږي. او په شرقي او غربي بلوڅي کې څه خاص بنیادي فرق نه شته یوازې د مختلف ماحول په وجه ځینې جزئي توپیرونه لیدل کیږي او په بنیادي ډول ټوله یوه بلوڅي ده. [۴]

(۷) میجر جورج د پښتو او بلوڅي ژبو په پرتلنه کې وایي چې د واړو ژبو له پراکرت نه ډېر لغتونه اخستي دي او د دواړو ترمنځ نژدې اړیکې شته دغه ډول د کردي ژبې اصلي منبع هم بلوڅي معلومیږي نه پاړسو. [۵]

(۸) د اؤلس کالنۍ لیکي! د دې د پاره چې دا خبره ثابته کړو چې بلوڅي یوه آریایي ژبه ده تر ټولو لومړی باید د هغې او د نورو آریایي ژبو ترمنځ یوه پرتلنه وکړو او بیا د پوهانو نظر یو ته مراجعه وکړو نوموړی کالنۍ زیاتوي چې که چېرې موږ د بلوڅي ژبې فونېټك (PHONEGIES) ته په غور وګورو او هغه د نورو آریایي ژبو سره مقایسه کړو نو معلومیږي چې

یوه بلوڅه میرمن په ملي سینګار کې

[۱] ENGLISH-BALOCHI COLLOQUAIL DICTIONARY MAGOI GEÂRGE WATERS GILDÊRTRÒN P GE.XXVIAND VI

(۲) د برینانیکا دایرة المعارف ۲ ټوك ص ۳۱۰۱ س ۱۷۶۴

(۳) بلوڅي، ماهتاك ۱۹۵۶ جولای - کراچي

(۴) اولس (پښتو ژبه) خصوصي ګڼه ۱۹۶۳ کویټه بلوچستان

(۵) بلوڅي ډکشنري مجر جورج لومړی ټوك XI ۷ - X۷

داهم یوه آریایی ژبه ده مثلاً:
بلوڅی یك، پښتو یو، هندی ایك، سندی اکهرو، فارسی یك.
یا: بلوڅی دو، پښتو دوه، هندی دو، سندی ډو، فارسی دو کردی مو.
یا: بلوڅی ماس یا مات پښتو مور، هندی مان، فارسی مادر، کردی مو.
یا: بلوڅی براس یا برات پښتو ورور، هندی بهایی، سندی با، فارسی برادر مگر داچی آیا بلوڅی په ایرانی ډله کښی راځی یا په هندی کی یوه ګرانه خبره ده ژلی چی ددواړو اثر په کښی شته او ځنی پوهان وایی چی بلوڅی پهلوی ته نژدې کیږی.

ډیمز وایی چی بلوڅی یوه آریایی ژبه ده چی د ایران دختیځو ژبو سره زیات نژدېوالی لری او دغه پورتنی ژبی ټولی سره خویندی او نه یوې مور نه زېږېدلی دی که څه هم بلوڅی له سیاسی انقلابونو او تاریخی واقعاتو څخه ډېر متأثره شوی ده خو بیا هم خپل اصلی شکل او څیره یی خوندی کړی ده. [۱]

(۹) د اریانا دایرة المعارف لیکی: بلوڅان چی د بلوچستان نوم هم له دغی کلمی نه جوړ شوی دی د دې هیواد د نفسو زیاته برخه تشکیلوی او د دوی ژبه د آریایی ډلی په هندو اروپایی ژبو پوری اړه لری. [۲]

دغه راز نوموړی دایرة المعارف زیاتوی چی د آریایانو ګډه ژبه چی (۳۰۰۰ ق م) په شاخوا کی پیدا شوی ده په لاندی ښاخونو ویشله کیږی جرمانی، سلتی، رومانی (ایطالوی، فرانسوی هسپانوی پرتګالی) سلاوی، بالتیکی، هندو-باختری. مګر هندو باختری بیا دوې څانګی لری (هندی او باختری).

د هندی ډلی پخوانی شکلونه (دوید شانسکرت او پراکرت) ژبی دی او ننی ژبی چی له هغی نه جوړی شوی دی (بنګالی، آسامی، ګجراتی، سندی، پنجابی) او نوری ژبی دی او په باختری کورنی کی کردی فارسی، پښتو او بلوڅی شامل دی چی د دوی پخوانی شکلونه فرس قدیم اوستا یا زند او پهلوی ژبه ده. [۳]

(۱۰) د حدود العالم په کتاب کښی لیکل شوی دی چی: بلوچها که زبان ایشان بدسته شمال غربی لهجه اریایی متعلق است بعدها به کرمان مهاجرت کردند و از مهاجرین بعدی این سرزمین شمرده می شوند. [۴]

(۱۱) د برتیانیکه دایرة المعارف د (بلوچستان) تر عنوان لاندی لیکی چی د بلوچستان مشهور ژبی پښتو، بلوڅی او جتکی دی چی پښتو او بلوڅی په (IRANÎAN) او جتکی د (EUROPEAN-ÎNDÒ) په (INDIAN) څانګه پوری اړه لری. (۱)

(۱۲) دغه ډول د کولمبیا دایرة المعارف زیاتوی چی بلوڅی یوه اوندو اروپایی (INDOEAR-OPEAN) ژبه ده. [۵]

(۱۳) امریکا دایرة المعارف وایی چی بلوڅی د بلوچستان ژبه ده او دا ژبه د (IRANION) (آریایی ژبو له ګروپ څخه ده په دې ژبه کی دوه ډیالکټونه لیدل کیږی (برهیویی او بلوڅی یا رخشانی). [۶]

(نور بیا)

---

[۱] اولس سالتاك (په بلوڅی ژبه) ګویټه بلوچستان ص ۸-۱۳ س ۱۹۶۳.
[۲] آریانا دایرة المعارف ۴ ټوك ص ۲۰۳ س ۱۳۴۱.
[۳] آریانا دایرة المعارف ۴ ټوك ص ۴۴۸ س ۱۳۴۱.
[۴] Èncyclopedía Britoniea Pag .9.V3
[۵] TL.e Columbia Encyc lopedia Nêwyork 1754-1895
[۶] The Encyc lopedia Americai aP.123

۲

د بیکاری شدت

لیکونکی: انتوان چخوف

ژباړونکی، ن، اشک

آنا په دکورتوله او سیدونکو اوددغه ژوندسره ستا ترسر پرستی لاندی وی... او هم به دماشوما نو دخرڅ لپاره تاکل شوی مقرری ورکوی.

دزده کونکی رنګ بیخی الوتی و په ریږدیدلی بدن سره ئې ورو وویل:

البته که ئی آناسیمونونا قبوله کړی زه به دیوه شرافتمند سړی په حیث مسؤلیت پرغاړه... مګر زه هم فقیر او نیستمند یم! هرڅه که....!

اخانه دکورخاوند دزده کونکی لاس ونیوی ځوواره ئی وښوراوه په تپولی آواز او خوشحالی سره ئی وویل: واقعاً چی ډیر شرافتمند سړی ئی؟

تشکر کوم - په هرحال تا ته دقطعی تصمیم نیولو دپاره یوه هفته وخت درکوم په مضمئن ډول فکر وکړه.

دکورخاوند دزده کونکی ځنګ ته پرچوکی کښیناست او په دواړو لاسو کی خپل مخ پټ کی او په بوغاروئی وویل،

زما پر سردې څه ټکه واچوله تازما دژوندشیرازه وشلوله، تازما هغه ماندینه چی پرما ترخپل ځان هم ګرانه وه زما له لاسه وایستله خیر زه ګمان نه کوم چی د دغسی خطرناکی پیښی طاقت ولرم... زورنوزما دژوند څخه ځه نه دی پاتی.

ځلمی په غمجن ډول دهغه خواته کتلی خپل تن ئی وګراوه ټول وجود ئی وحشت نیولی و دآه ترکلو وروسته ئی وویل:

نیکلای اندریویچه!! تقصیر ټوله ستا خپل دی. یو معروف مثال دی چی وایی «هغه څوک چی وغواړی خپل سر له تنه جلا کړی نورنو دخپلو وینتانو فکر نه کوی» ښه یی درپیاد کړه چی تافقط دآنا سره دهغی دپیسو اوشتمنی په لحاظ واده وکړ.... وروسته ترهغه نو دژوند په ټوله موده کښی د هغی پوه نشوی. او ورته متوجه نه سوی! او برعکس دی دهغی دعصبانیت اونا آرامی اسباب راغونډول. دهغی دانسانی زړه او روح په پاکوغوښتنو دی څه اعتماد هم نه کوله..!

نیکلای آندریویچ په چټکی سره خپل لاسونه له مخ څخه لیری کړه او پوښتنه ئی وکړه.

دا خبره هغی پخپله درته کړیده؟؟!

بلی! هغی پخپله راته ویلی دی؟؟ زه دهغی له ټول ژوند څخه خبریم، له هغی سره زما مینه یوازی دهغی دنیکلا په سبب نه ده بلکه په دې لحاظ له هغی سره مینه لرم چی هغه یوه بدمرغه اورنګ لیدلی انسانه ده.

دکورخاوند غمجن په غصجن ډول په داغی حال کښی چی له چوکی څخه ولاړ پدی وویل:

ته شرافتمنده سړی ئی دخدای په امان! انشاء الله چی نیکمرغه ئی! البته پدې ډاډه یم دغه خبری چی زموږ ترمنځ شویدی زموږ ترمنځ به پاته شی.

نیکلای اندریویچ یوه پلاسویلی وایستله او دخپل کورخواته وخوځیده. لاری په منځ کی له آناسیمونونا سره مخامخ شوی او له هغی څخه ئی پوښتنه وکړه.

څه قصه ده؟ په خپل ملګری پسی ګرځی! ورسه وګوره چی څه حال لری او څه بلا می پرسرور واچوله! ښه داهم راته ووایه چی آیا دا فرصت ئی میندلی دی چی دخپل ژوند ټولی قصی ورته وکړی؟! ډیر ښه خدای شاهد دی زه نه پوهیږم چی ولی تاسی ښځی په دغه عمر کښی دغسی عجیب رفتار او اخلاق ومومی نور نو په ښکلا سره نشی کولای چی ځوانان په دام کی واچوی په دغه وخت کښی دهغود لطیفو روحیو او او مو احساساتو سره بازی کوی او هغوی ته بی معنی اې

چټی خبری کوی ، څنګه جملی چی تا هغه ته نه دی ویلی ؟؟ .

ته می د پیسو په خاطر غوښتی ئی ؟! ستا په احساساتو نشوم پوهیدی؟؟ ته می عصبانی او نا آرامه کوی؟ زهره!!؟!

آ تا سیمو نو نا په غضب شوه او په عصبانیت سره ئی وویل !

یه ما هغه ته څه نه دی ویلی ...

ښه خواهش کوم . خواهش کوم ... زه ستا حال ته توجه لرم او له تا سره به خوا خوږی وکړم ... ته مه بیریږه خو دامند او غوړ مالی ه کوم فقط یوازی می د هغه زلمی پر حال زړه سوزی !! څومری پاک او نجیب سړی دی .

کله چی شپه شوه د کور خاوند یوه پلاد چکر او هوا خوری د پاره له کوره ووت ، شپه ډیره عالی او خوندوره وه ، و نی ټوله په ژور خوب بیدی وی داسی ایسیده چی هیڅ طوفان به دا قدرت ونلری چی هغوی له هغه درانه خوبه څخه راپاڅوی ، ستورو په آسمان کښی ستر ګکو نه وهل او له لیری ځایه د بلبلو آواز او نه اوریدل کیدل .

نیکلای آندیویچ د ګڼو ونو په منځ کښی چکر واهه ! نا څاپه ئی ځګر د هغه زده کونکی له ځګره سره و وښت .

د کور خاوند په تعجب سره پوښتنه وکړه ؟

ته د لته څه کوی؟؟!

هغه ځلمی په داسی حال کی چی له ډاره زیږدې دی په خبرو شروع وکړه .

نیکلای آندریویچه !! غوږ ونیسه ! زه ستا له ټولو شرایطو سره موافقه لرم مګر ... دغه جریانات څومری عجب ایسی . ته یوه پلابی مقدمی وائی چی بد بخته شوی ئی ... رنځ ګالی ، د ژوند شیرزاه دی شکیدلی ده .

بلی ! همدا ډول ده لکه څنګه چی ته وایی منظور دی څه شی دی ؟ !

که تا ته توهین شوی دی ، هر څومری که زه عقیده نلرم مګر ستا د غوښتنی سره سم حاضریم چی ستا د غوښتنی په مطابق رفتار وکړم که دوئل ستا د درد د تسکین باعث کرځی او ستا درد آراموی زه حاضریم چی که ته وغواړی حتی سل واره هم دوئل وکړم :

د کور خاوند په خندا کښی د ځلمی په ملا کی لاس اچولی او وئی ویل :

ښه ! ښه بس دی ما فقط ستا سره یوه وړه ټوکه وکړه ، دا موضوع ډیره وړوکی او بی اهمیته ده ، اصلاً دغه پسته او نا پاکه ښځه دا ارزښت نه لری چی ته د ومری نا ارامه شی او ډیری غټی او عالی خبری پر هغی نثار کړی ! ګرانه ځلمیه بس دی ! راځه چی ولاړ شو او چکر ووهو !!

وبخښه ! زه ستا په خبرو نه پوهیږم !!

لازمه هم نه ده چی په و پوهیږی ! ښځه چی کنچینی سی پسته او بی ارزښته ده ! تعجب به و کړی که پوهیږی چی زه د خپلی ماندینی په باره کښی همدا عقیده لرم البته نه ښائی چی زه تا ته دا خبری وکړم مګر بیا هم ته تر یوې اندازی پوری په دی باره کښی زینفعه ئی او په دی خوا کښی زه او ته د مشترکی علاقی خاوندان یو نو ځکه زه ستا سره پوست کنده خبری کوم او هیڅ شی در څخه نه پټوم تا ته په واضح ډول وایم - د دې د پلار قبر ... دا هیڅ ارزښت نلری هر څه چی ئی تا ته ویلی دی درواغ او له حقیقت څخه لیری دی دا بد مرغه او بی عقله ښځه ده

ګرانه خدای شاهد دی چی دا ټوله رشتیا دی ستا سره ټوکی نه کوم .

زده کونکی په ډیر تعجب سره وویل :

دا څه خبری دی .. دا چی هر څه وی ستا ماندینه ده؟

ای بابا څه اشکال خو نلری ! یوه ورځ زه هم ستا په شان ساده او د ښه زړه خاوندوم او د خپل حماقت په اساس می له هغی سره واده وکړه مګر اوس له خدایه غواړم چی له هغی څخه خلاص شم مګر افسوس ... ګرانه ! پیریږده ! حتی د فکر کولو ارزښت هم نلری ، زه پوهیږم چی ته له هغی سره کم علاقه او مینه نلری فقط دوزګار نیاد شدت په اثر غواړی چی له هغی سره لوبی وکړی و فرمایه !

[پاته په ۲٤ مخ کی]

د عبد الصمد «نصرخواه» ژباړه

«۴»

ارسطو او دهغه فلسفی معضلی

ایا له ټولو له بدن څخه او که د بدن له ځینو برخو څخه ؟

دغه مشابهتونه چی د انسانانو په مابین کښی په یوه فاصله منځته راځی د ادلومړی فرضیی د باطلولو اثبات دی او د ارسطو دغه عقیده او څېړنه د (مندل) نامی د نباتاتو معروف عالم د هغه ژور تحقیقات او څېړنی څخه چی په [۱۸۲۲-۱۸۸۴] عیسوی کال کښی کړ پدی چندانی پاته نه ده .

د ارسطو علمی فکرونه د بیولوژی په برخه کښی چی یوه لویه علمی آبرده ده هیڅ وخت لپاره به د بشر له یادونه وزی او دا باید وویل شی چی بیولوژی د ارسطو د مخه عبارت د څو پراګنده او پریشانه افکارو څخه وه مګر ارسطو هغه ته علمی جنبه ورکړه او په یوه سسټم کښی ئی راوسته چی همدغه افتخار د ده د ژوندی ساتلو لپاره کافی دی .

د ارسطو نظریه د بدیعیاتو په هکله :

وایی چی ارسطو د بدیعیاتو په برخه کښی پخپلو دو مشهورو کتابو کی لکه (پوئتیکا او ره توریکا) دغه بحث کړیدی او لاندی عبارتونه هم د دغو دو کتابو څخه مأخذ شویدی .

ارسطو لومړی جال د شیانو له نقطی نظره ترمطالعی او بحث لاندی نیولی دی او دی دا رنګه وائی :-

زه خپل احساسات او مشاعر خوښ لرم ځکه دغه د خارجی عواملو د ادراک وسیله ده او هرشی د دغو په واسطه زده کولای شو او محبوب ترینه حس زما په نزد د باصری حس دی او دغه حس نسبت ونورو څلورو حواسو ته د علم په راعوانولو کښی ډېره برخه لری ټولو له انسانان د هغو صورتو او نفیسو شیانو څخه چی د یوه ماهر صنعت ګر له لاسه راوتلی وی خوند اخلی او ځکه چی د هرشی د زده کړی ذوق د انسانانو په نهاد کښی وجود لری او کوم شی چی ښه ورته ښکاره شی هغه به حس کوی او د ذوق احساسات ئی راپاربری او که و کړای شی نود هغو نظریه به منځته راوړی او په دې توګه تقلیدی حس انسانان د جمیله او نفیسه شیانو وخوښولو ته وادار ه کړی .

د جمال نښی د ارسطو په نظر

د ارسطو به عقیده د جمال نښی درې شیان دی-

نظام تناظر ، تناسب ، او معین حدود .

ارسطو دغه درې شرطونه هم په طبیعت او هم په جمعیت کښی پیدا کړیدی ځکه دی وائی . که په یوه اطاق کښی د شیانو او ډول په ښه ترتیب شوی وی نو اطاق ښه ښکلی ښکاری او د طبیعت کښی د کائناتو ټولو اجزا او ی مرتب او منظم وی او په طبیعت کښی هیڅ شی د نظام او قوانینو څخه عاری نه دی و څرنګه چی نظام او قوانین په طبیعت کښی دی او انسانان هم یو جز د طبیعت دی نو که د ده حرکات او سکنات په ټولنه کښی د قانون په دائره کی وی : احرکات ټولنه ښه دی او که د قانون تر دائری د باندی قدم اېدی نو د ملامتی او سرزنش مورد ګرزی .

انسان که په خوړلو ، بیدیدلو او حرکت کولو کښی د خپل بدن طبعی نظام او قوانین

وساتی نو ده لره ګټ ده او بېله دغه به ضرر ووینی که یو انسان د خپل طبیعت د قانون برخلاف حرکات کوی نو حتماً به له ناجوړیو سره مخامخ کیږی نو دا معلومه شوه چی په هرشی کی د نظام درلودل د جمال او ښه والی نښه ده .

ارسطو په تناسب او تناظر په هکله وایی چی زما مطلب په تناسب کښی پوره او کامل نسبت په هغو شیانو کی دی چی په کائناتو کښی موجود دی د ارسطو په عقیده تناسب په هرشی کښی اوسط حد د هغه شی دی دی وائی هر وجود چی د تناسب او آهنګ څخه خالی وی هغه شی په حقیقت کښی ناقصه، ضعیفه او غیر طبعی وی همدارنګه که دیوه ذیروح د وجود په اعضاؤ کی عدم تناسب وایدل شی په حقیقت کښی هغه وجود مریض دی او که د هغه په وینو، اعصابو او عضلاتو کی نظام و نه لیدل شی نو هغه کمزوری دی او که دده په رنګ او بشر کښی د طبیعت نظام و نه لیدل شی نو هغه کریهی منظره وی او دده د ښکلا مخل دی ارسطو د معینو حدودو په هکله وائی چی معین حدود د لاتینا هینو ضد دی دی وایی که یو شی معین حدودو نه نلری نو د هغه شی پیژندل او په ذهن کښی ځای ورکول امکان نلری ځکه ټوله شیان چی په طبیعت او د لوی خدای په مخلوقاتو کی وجود لری د حدودو خاوندان دی او کوم شیان چی معین حدود لری هغه طبعاً ښه او ښکلی وی او څرنګه چی ژوند هم وجود لری یعنی لومړی زیږیدنه او دوهم مرګ دی نو ځکه د ښو او زیبا شیانو په زمره کښی حسابیږی .

ارسطو غیر له دروپورتنیو شرطو څخه یو بل شرط هم په دغه زمینه کښی راوړی او وائی چی نظمت هم د جمال یوه نښه تلقی کیدای شی دغه فیلسوف خپله نظریه داډول ښکاره کوی چی د ذیروح یا غیر ذیروح مخلوقاتو څخه که یو شی د دغه درې ګونی ذکر شوی اوصاف هم ولری مګر د هغه شی ډېر لوی والی او یا ډېر کوچنیوالی هم د جمال فعل ګرزی : ځکه چی د هغه شی ډېر لوی والی او یا ډېر کوچنیوالی یه پوه پلا تر نظر تیریدلای نشی ارسطو د شعر په حصه کښی هم دغه څلور اوصافو ته اشاره کوی او وایی د دې لپاره چی یو شعر د جمال منعکس کننده وی ښائی دغه څلور ګونی اوصاف په کښی ځای شوی وی چی په عبارت او شی سره اماده شی .

ارسطو د جمال او ښه په تو پیر کښی داسی نظریه لری؟ کله چی ارسطو د جمال په حصه کی خپل معلومات بشپړ کوی نو دیو بل مشکل سره هم مخامخ کیږی او د هغه څخه بېله څیړنی تېرېده ناجائزه بولی دی د جمال او ښه په مورد کښی داسی وایی چی د ښه او جمال فرق دادی چی ښه د عمل له ماورای څخه او جمال د شی د ماهیت څخه ظهور کوی نو د ارسطو په نظر جمال عبارت د نظام، تناسب او معین حدودو څخه دی چی څلرم شرط یعنی ډېر لویوالی هم ورسره خم وی -

پای

[د ۲۲ مخ پاته]

د بیکاری شدت

هغه ده ناستا سیا زموږ د کرروینځه هغه ده راروانه ده ... ای ته چیری ځی ؟!

هغی جواب ورکړ! باداره! ځم چی د بی بی د پاره لیمو رانیسم .

ډېر ښه ولاړه شه !

د کور خاوند خپلو خبرو په تعقیب وویل :

بلی ! عشقبازی او مینه له دغسی ښځو سره معنی لری مګر دغه ښځی چی زړیږی عقل ئی له لاسه وزی او خپل ځانونه رنځورانی او بد مرغی بولی ، هیڅ ارزښت نلری! له هغو څخه ځان لیری وسیانه! هر څومری چی ناستا سیا ځوانه او بیعقله ښځه ده مګر له ځانه راضی او هوښیاره ښځه نه ده کیف یی ډېر دی، زویه! زړه دی غواړی چی لږ څه شانته چکر ووهو !!

د کور څښتن او زده کونکی په قدم وهلو پیل وکړ او له بڼ څخه ووتل، په دې وخت کی ئی یوه پلا بیا شاوخواته وکتل او په چکر ئی شروع وکړه .

پای

لیکونکی رهبر فاروقی
د الماسو اصلیت او ماهیت

٤

مترجم عبدالقدوس [ن]

د کوه نور الماس

مطابق ئی خپله لنګوټه
دده پرسر او دده لنګوټه ئی
پر خپل سر باندی کښیښوو له .
شاشجاع چی دی له خپلو
قدیمو نمک خورو څخه باله
او دده له سکه ورور شا زمان

سره ئی د مهابت سنګ نومی
په قضیه کی زیات کومکونه
کړی وه نو دی پوره ډاډه ؤ
چی نوموړی به له ده سره
هیڅ رنګسه غلا او نمک
حرامی ونه کړی مګر دی

ملعون دا ټول چمونه راز ونه
د کوه نور او نورو الماسو
د پلاس راوړلو په غرض کوله
په ابتدا کی دده خیال دا ؤ
چی شاشجاع به کوه نور
زما د خبروی احسانو په بدل

کښی راکی او یا به ئی د دې
تنګ دستی په موقع کښی
په جزوی قیمت را باندی
خرڅ کړی وختی چی ئی
شاشجاع مستغنی ولیدی او

دده دې خیال پلو کومه نتیجه
ور نکړه یوه ورځ ئی په یوه
محفل کښی د کوه نور
د غوښتلو مطالبه ځنی
وکړه شاشجاع چی پدی
وخت کښی دده په مطلب پوه
شو نو راز په راز بهانی ئی

ورته د مخه کړی .
رنجیت چی لدی لیاری څخه
ناکامه شو نو لدې بلی لاری څخه
ورته راغی او شاه شجاع ته ئی یو
لیک واستاوه په هغه کښی ئی
لده څخه ټینګ خواهش وکړ
چی د الماس هر څومره قیمت

چی کیږی د هغه د تادیی په بدله
کښی پدې شرط چی په یوه واری
به ئی نه غواړی ما ته را که شاشجاع
د زمانی د ګردش او د زیاتو پریشانیو
په وجه یو اټکل قیمت ورته ولیکه
د رنجیت سنګ د دې لیک په جواب

ډېره تسلی وسوه او پوره متیقین
شو چی نو موړی الماس ضرور
ور سره سته پسله څو ورځو څخه
ئی پنځه زره نانک شاهی روپی
د لومړی قسمت په ډول ور واستول
سوی مګر شاه شجاع هغه قبولی

نکړی او د کوم تړون د لیک غوښتنه
ئی ځنی وکړه او دا ئی هم ورته
ولیکله تر څو چی کوم دست آویز
او سند زما وستا په مابین کښی
لاس لیک نشی زه له ور کړی څخه

د کوه نور معافی غواړم .
وختی چی رنجیت سنګ دا
محسوس کړه چی له شاه شجاع
څخه دا الماس په آسانی سره نشم
لاس ته کولای نو عطا محمد نومی
د کشمیر حاکم ئی پردې باندی

وګماره چی شاه شجاع په
کومه بهانه سره کشمیر ته
ور وغواړی او هلته ئی بندی
کړی عطا محمد چی یو سست
اعتقاده سړی او د بل پر ډول
ناڅېدی شاه شجاع ته ئی

ولیکه زه چی ستا له صمیمی
مخلصانو څخه یم غواړم چی
حق د نمک دی د کشمیر د
حکومت په در کولو سره ادا
کم او د شاه محمود په مقابل
کښی ستا هر ډول ملاتړی

وکم کله چی دا لیک شاشجاع
ته ورسیدی خورا خوشحاله
سو بیله چرت وهلو څخه
مخ پر کشمیر را رهی شو او د
د کوه نور الماس ئی ماندینی
ته پریښود د مخه د کشمیر تر

رسیدو پیښور ته ولاړی پدې
مقصد چی هلته ځنی حربی
اسباب غونډ کړی عطا محمد
چی دده د پیښور د تګه خبر
سو خپل د لښکر څو تنه مشران

ئی سره د یوی دستی عسکرو
پیښور ته واستوله ظاهره
ئی رنګ دا په وا غوستی
چی د دوی تګ پیښور ته د
شاه شجاع د حربی سامان
لیدلو په غرض دی مګر کله
چی نوموړی پیښور ته

ورسیدله شاه شجاع ئی په بالاحصار کښی محاصره او زندو بندئی کشمیر ته واستاوه هلته چی نوموړی حاکم هر څه وکړه نو نوموړی الماس ئی وګوتو ته ورهنغلی څو په پای کی متیقین شو چی له شاشجاع څخه نسته نو رنجیت ته ئی ولیکله چی هلته ئی دده له ماندینی څخه حصول کړه د شاه شجاع ماندینه چی وفادار بیګمه نومیدله او دوفادار خان لوروه یوه زړه وره او پر پښتو ټینګه پښتنه وه د مهاراجا رنجیت خړو پړو او نورو چالو خطانه ایستلای شوای.

رنجیت چی پوه سولدې لاری څخه خپل مقاصد وړاندی نشم بیو لای نو له هغی بیوزلی پښتنی سره د زور لار واخستله د کور ټول اسباب ئی ځنی ضبط کړ غیر له

یوه پوړنی او داغوستو له کالیو څخه ئی بل شی ور پرینښود پدې اسبابو کی که څه هم ډېر قیمتی الماس پلاس ورغله لاکن کوه نور چی ده زړه پر بایللی ؤ ګوتو ته

وره نغلی په اتدا کښی که څه هم ده پر یوغټ الماس باندی د کوه نور ګمان وکی مګر په آخر کی هغو کسانو چی کوه نور ئی لیدلی ؤ

امید ور قطع کی له دې لاری څخه چی ئی څه ولاس ته ورنغله یعنی د کوه نور الماس په اخستنه سره موفق نشو نو ئی شدادی ظلم ته لاس ورته کی د بیګمی خواری نوکران ئی وایستله او ددې څخه ئی ډوډی منع

کړه په شپو شپو به خواره شومه نهاره ناسته وه خو سره له هومره مصائبو ئی له وفا داری پښتنی څخه وانه خستلای شوای.

بیګمی خواری چی دې مصائبو ته وکتله او له بلی خوا څخه ئی میړه په بند کښی ولیدی نو د کوه نور ورکړه ئی مناسبه وګڼله او رنجیت سنګ ته ئی احوال واستاوه ورته وې ویله تر دې

چی لا زیات زحمت را باندی راولی لایی نشی اخستلای اماد پښتنوالی په قول سره زه پدې شرط دا الماس تا ته درکوم چی ته شاه له بندی خانی څخه خلاص

او بیرته خپل جای ګیر په لاس ورکی دی احوال رنجیت سنګ له ډېری خوشحالی څخه په نڅا راوستی او دستی د شاه شجاع د خلاصیت په فکر کښی شو.

د خدای کړه وه په دې وخت کښی شاه محمود پر کشمیر باندی حمله وکړه او له رنجیت سنګ څخه یی د مرستی کولو خواهش وکی.

رنجیت سر کوزی چی په دوستی او دښمنی ئی اعتبار نه ؤ سره له هغو ښو چی عطا محمد خان ورسره کړی وه د محمود پله ونیوله او د ځنو شرطو د قبلو نی په شرط ئی له محمود سره عسکری امدادو کی هغه ؤ چی نوموړی حاکم مات او ملک ئی د محمود په لاس کی شو.

شاه شجاع چی پدې وخت کښی په کشمیر کښی بندی ؤ د رنجیت سنګ سره د عهد او پیمان په مطابق تحت الحفظ لاهور ته واستول شو هلته ئی خوراهلق تلخی

ده آو ماندینی د رنجیت له لاسه څخه ولیدل په پای کی مجبور شو یوه فرضی عهد نامه ئی ورسره ولیکل چی په هغه کښی د ځنو

شرطو ایفا کول رنجیت پر ځان ومنله او ګروه نانک په نامه او نورو مذهبی کتابو سره ئی قسمونه واخیستله.

شاه شجاع چی له هری خوا لار پر ځان بنده ولیدله او یوې خو ته ئی مخ نه ګرزیدی نو مجبور ا ئی د کوه نور ورکړی ته غاړه کښیښوو له.

په ۱۸۱۳ عیسوی سنه کی یو هیئت چی عبارت له فقیر عزیز الدین بهائی ګور بخش سنګ او جمعدار کهو سلا سنګ څخه ؤ شاه شجاع دوی ته د کوه نور دراوړلو په غرض واستول شوه مګر شاه شجاع دوی ته جواب ورکی او ورته وې ویله

نور بیا

حفیظ الله «صائم»

د پښتنو تعاملی حقوق

سورلاسی

د ځینو پښتنو په اصطلاح سره هغه قاتل ته وائی چی په خپل لاس ئی قتل او مړی کړی وی دا په هغه وخت کښی معلومیږی چی قاتل معاون هم ولری او د معاون سزا د سورلاسی تر هغی څه سپکه وی.

تبصره :- په پورته عنوان کی مولږ څه د ښاغلی «بینوا» د لیکنی څخه استفاده کړیده

غچ

په پښتنو کی غچ د (انتقام) په معنی راځی خوشحال خان وائی :

څو وانخلی له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خواړه کا نه آرام

وائی چی پښتانه هیڅکله خپل انتقام نه پریږدی که څه هم په زرو کلونه تیر شی لکه چی دا مثل دی

پښتون سل کاله وروسته خپل بدل واخیست ویل تلوار ئی وکی.

تیږه

تیږه هغی ډبری ته وائی چی د دوو ګوندو یا قبیلو او ډلو تر مابین د صلحی یا تړون یا تعطیل په ډول سره ایښوول کیږی په بله څیړنه سره دا تیږه د هغی معاهدی او صلحی حکم لری چی د دوو ضدینو او دښمنو په منځ کی لاس لیک شی. مثلا که څو قبیلی سره پر جګړه کی وی او بیا دواړی ډلی او خواوی وغواړی چی خپله جګړه تر یوه معین وخت پوری وځنډوی نو په خپل مابین کی تیږه اږدی یعنی جوړه او تړون کوی. دا تړون دومره ټینګ وی چی یوه خواهم د هغه د ماتولو اقدام نشه کولای. کله کله دا تیږه په قومی قضائی پیښو او فیصلو کی هم استعمال لیږی دلته نو د تاوان په معنا راځی نو ځینی تیږی درنی او ځینی سپکی دی که جرم او ګناه درنه وی تیږه درنه او که جرم سپک وی نو تیږه هم سپکه وی.

ننواتی

په پښتنو کی رسم دی کوم وخت که د دوو تنو دوو کورنیو یا دوو قبیلو په منځ کی جګړه اوږده سوه نو مغلو به خوا د دی د پاره چی خپل ځان له مغلو بیب او جګړی څخه وباسی نو څو تنه مشرن او سپین ږیری او سیدان هغه غالب طرف ته ورلیږی چی د دوی عذر وغواړی.

د افغانانو په نظر کی ننواتی ډیر اهمیت لری او هغه څوک چی پر چا ننواتی وکی نو که څه هم ډیر تاوانی شوی وی تر ور تیریږی.

ننواتی چی په پښتنو کی ومنی بدکار دی ضرور بایدو نه منل شی په حیقیت کی ننواتی په پښتنو کی ډیر لږ رواج لری او یو لوی عار او ننګ ئی بولی که څه هم یوه خوا ډیره کمزوره وی ننواتی نه پر کوی ولی چی پښتنی ننګ ورته دریږی لکه چی وائی که پلانی پر پلانی باندی ننواتی وکی ربه ئی وبخښی لیکن چیری دا پښتنی ننګ قبلوی

یرغمل

دا یوه جنګی اصطلاح ده کله چی د دوو ټبرو په مابین کی جنګ شی او بیا آخیر ته ورسیږی نو هره خوا چی بی اعتماده وه نو د هغی بلی خوا څخه یو یا څو کسه د امانت او اعتبار په ډول ور پریږدی چی دی امانت او اعتبار ته (یرغمل) وائی.

محمدنبی احمدوال:

ساینس د داروین نظریات تردیدوی

انسانی کرامت د ساینس په دنیا کی اساسی رکن ګڼل کیږی.

د انسان خلقت د ساینس په عالم کی دلوی قدرت کارنامه ده چی د بیولوژی پر قوانینو بنا سویده اما د داروین د خپلو نظریاتو په لړ کی وائی د ژوندانه خلقت د امیبا (امیب) په سلسله راشروع سویدی.

او د امیبا د سلسلی څخه د ذوحیاتینو دوری ته داخل سوی او د ذوحیاتینو د دوری په سلسله کی فقاریه حیوانات تشکیل سوی او د فقاریه حیواناتو په لړ کی انسان منځ ته راغلی دی.

په عوامی توګه د داروین د نظریی یادونه:

د داروین د اسی نظریه لری

چی د ژوند د تخلیق په اول کی امیب د ژوندون په څیره ظاهر سو او د امیب د تکاملی سیر څخه د چنګښی په څیر حیوانات منځ ته راغله چی په وچه او اوبو کی ئی ژوند کاوه او د چنګښو د تکاملی سیر څخه د بیزو ګانو په څیر حیوانات منځ ته راغله او د بیزو ګانو د تکاملی سیر څخه انسانانو موجودیت وموندی

د انظریات ساینس تردیدوی او د بیولوژی په چوکاټ کښی ارزښت نه لری.

اوس د ساینس بیولوژی علومو ښکاره کړه چی انسان مستقل مخلوق او د کرامت خاوند دی او پدی باره کښی د داروین نظریات ټول تردید او د منلو وړ نه دی.

(اصلی موضوع)

د ساینس په دنیا کښی تکاملی سیر او تکثر

اول: د امیب د حجروی تکثر.

دوهم د انسانی حجروی تکثر

اول. د امیب د حجروی تکثر د تقاطع پر قانون ولاړ دی.

دوهم: د انسان د حجروی تکثر د القاء د قانون په اساس بنا سویدی.

اول د تقاطع قوانین

د اقوانین بی له سانتر و زمو څخه د کرو موزوم د تکثر په اساس خپل مراحل تیروی. یعنی د امیب په حجره کښی سانتر و موزونه نه سته کرومو زومونه د خپل انبساطی مراحلو له مخی د طرد د قانون په اساس سره جلا کیږی

او د دی د وه جنبو کرومو زو د غشاء په جدار کی فزیکی عوامل اجرا کیږی او د دی د وو جنبو کتلوی توازن غشا په نورمال ډول سره ویشی او د یوی امیبی حجری څخه د وی امیبی جلا جلا حجری تشکیل کیږی او یو د بله بیولوژی ارتباط هم نه سره لری.

دوهم القاء قوانین

د اقوانین د سانتر و زم تر شعاع لاندی د کرو موزوم د تکثر په اساس منځ ته راځی هغه وخت چی نیم سپرمیوم مذکر او نیم سپرمیوم مؤنث خپل ځانونه سره یوځای کی او ملقه حجره تشکیل کی د دغی ملقی حجری په دوه قطبو

کښې دوه ځلانده ستوری دسانترو زوم په نامه پیداسی .

اودادوه ځلانده ستوری دواقعیت له مخه ډېر کوچنی دی خپله شعاع اوجاذبه قوه پر کروزومو باندی واچوی اوددې شعاعو تر موجولاندی کروموزومونه خپل تکثر ته دوام ورکوی .

او دسانترو زومی قطبونو دجاذبی پر قدرت کروموزمونه سره جلا کیږی .

اوکروموزومونه دجفت په حال کی په دؤ جنبو ویشل کیږی اوهره جنبه ځان ته دحجری شکل غوره کوی اودالقا په قانون کی په داسی مراحلو تکثر اجرا کیږی .

دالقادقانون په حجروی تکثر کی بیولوژیکی ارتباط همیشه قایم وی او حجری یوله بله هیڅ وخت نسی بیلېدلای او یودبل په جدار کی تریوه ارتباطلاندی خپل فعالیت ته دوام ورکوی .

تاسی ددې دؤ قوانینو دتشریح څخه پوه سواست چی دتقاطع اوالقا قوانین یوله بله بیل قوانین لری .

چی دابتدا څخه دژوندانه دخلقت په ځانګړه توګه منځ ته راغلی دی .

ددې دؤ قوانینو له مخی دډاروین نظریات دسایاینس په دنیاکی تردیداو دمنلووړ ندی ولی چی دامیب دحجری سیسټم او دانسان دحجری سیسټم دسینس له پلوه یوډول ندی دامیب تکثر اودانسان تکثر پر جلاجلا اوځانګړی بیولوژیکی سیسټمو بناسویدی .

نو له دې سببه دډاروین نظریات نشو منلای .

دساینس علومو دامیب دژوندانه قوانین د حیواناتو دژوندانه قوانین اودانسانانو دژوندانه قوانین دمبدا او حجراتو له مخی سره تفریق کړیدی .

دذوحیاتینو په باره کی دډاروین تردید!

ذوحیاتین حیوانان هم دژوندانه په اساس دانسان دژوندانه قوانینو سره نه ګډېدونکی توپیرلری دذوحیاتینو حیواناتو تکثر دهګیو په آزاده هوا کی سرته رسیږی .

اودانسان تکثر په خپل داخلی موجودیت کی بشپړ کیږی .

اوذوحیاتینو دوینی ترکیب دمسو دمخلوط په اساس منځ ته راغلی دی .

اودانسانانو دوینو سیسټم داوسپنی دمخلوط په اساس ترکیب شویدی .

دډاروین قضاوت اوس دوینو دګروپ په اساس ساینس تردیدوی .

یعنی څرنګه کیدای سی چی دمسو دوینی ګروپ داوسپنی دوینو په ګروپ تبدیل سی .

داتعمل دبیولوژی په قوانینو کی امکان نه لری .

اودبیولوژی قوانینو له مخی د ذوحیاتینو دتکامل څخه انسانان موجودیت ندی موندلی ځکه چی دابته اڅخه دژوندانه دخلقت دذوحیاتینو اوانسانانو دوینو ګروپو فرق درلود .

د فقاریه حیوانانو او انسانانو بیلوالی

هرچاته داڅرګنده ده چی حیوانی ډلی دزوج په صورت خپل نسل ته بقاء ورکوی .

اودهری ډلی تخمونه یا نیمی فعالی حجری دارتقاء مراحل سرته رسوی او دهری ډلی حیوانان دخپلی ډلی لپاره دی اودهری ډلی حیوانانو تخمونه یا نیمی فعالی حجری دبلی

ډلی لپاره مؤثر نه دی .
ځکه چی د امتزاج قوانین په خپله ډله پوری اړه لری او د هری ډلی له پاره خپل امتزاجی قوانین سته .

د بیولوژ کی قوانینو له مخی که موږ د انسان نیمه فعاله حجره د بیولوژیکی

او نسل ګیری په اساس په ټولو حیواناتو کی امتحان

کو غیر له انسان څخه په هیڅ ډول حیوان کی د تکثر نتیجه نه ورکوی .

د دې څخه پوهیږو چی انسان د هیڅ حیوانی ګروپ او ډلی سره ارتباط نلری .

او پدې باره کی هم د ډاروین نظریات غلط او د منلو وړ نه دی .

د ساینس په دنیا کی انسان مستقل مخلوق او د کرامت

خاوند دی او د انسان تکامل او تسلسل د انسان پر ظاهری موجودیت بناسویدی .

انسان د خپل خلقت له مخی د لوی قدرت کارنامه ده .

چی د ژوندانه په عمل کی ئی د خپلو ممیزه صفاتو او نابغه خواصو او ادراکاتو په مرسته د انسانی کارنامو

نوی دنیا منځ ته راوستلی ده د دې څخه پوهیږو چی د حیواناتو د تکامل سیر او د انسان د تکامل سیر ساینس

پلټنی غواړی تش په خبرونه حل کیږی د امراحل د ساینس بیولوژی ترڅیړنی لاندی ښه ترا روښانه کیدای سی باید موږ په تشو نظریو او غلطو افکارو ونه غولیږو باید د ساینس په دنیا کښی خپل افکار په ساینسی توګه روښانه کو او پرسمه لار خپل حرکت ته دوام ورکو چی د حقیقت منزل ته ورسیږو او د قدرت مظاهر زموږ ولبیک ته حاضر سی .

ټولونکی نثار احمد (رمیا)

د نړۍ مشهور نقاشان

آبر

د فرانسی یو مشهور رسام ؤ چی د تاریخی مناظرو نقاشی ئی کولی چی د نمبانه او علی سبک خاوند ؤ په ګروفویل کی پیدا شویدی او په ترانش کی مړ شویدی د ۱۸۱۷ څخه تر ۱۹۰۸م پوری ده ډیرونه لیکلی دی چی مهم او نامتو یی دا دی : ملاریا، طفل او د مسیح خوب .

البانو فرانسکو

یو ایطالوی نقاش چی په بولونیا کی زیږیدلی دی او د ۱۵۷۸ څخه تر ۱۶۶۰م پوری ئی ژوند کاوه د ده لومړی معلم کیلورټ او بیا کراکسای ؤ . آلبانو فرانسکو په روم کی اکاډمی افتتاح کړه او هلته ئی په نقاشی شروع و کړه او مهم آثار یی ولیکل چی اکثره یی په بولونیا کی او نور یی په لور فلورانس او لیننګراډ کی سته دی .

آلبرتی لیون باتستا

د ۱۴۰۴ څخه تر ۱۴۷۲م پوری یی ژوند کاوه یو ایطالوی نقاش شاعر، فیلسوف، موسیقی دان او معمار دی چی په لاتینی غزلو ویلو کی یی پوره مهارت درلود او مشهور اثر یی کامدی فیلودو - کسیوس دی چی په موسیقی کی ډیر شهرت لری او د معماری آثار یی په ماڼی ګانو او کلسیاؤ او نور شودانیو کی لیده کیدی .

آتنینه

یو مشهور فرانسوی نقاش دی چی د ۱۸۱۸ څخه تر ۱۸۷۸ پوری ژوندی ؤ (دیوی مور - وروستنی ښکلول) د دغه نقاش د مشهورو تابلوګانو څخه دی .

دټاګور اثر　　دنور وادب

سفر

محبوبی دسهار پروخت چی دې زما په غوږ کښی په ډېره نرمه لهجه سره وویل چی زه او ته به په هغه باد باندا ره کښتی کی ودریاب ته ولاړشو او هیڅ څوك به دمځکی پرمخ له دې سفره څخه وهغه نامعلوم ځای ته خبر نه وی .

په هغه لوی سیند (اوقیانوس) کښی چی ستا په وړاندی آرام او پټه خوله دی زما زړه وړونکی نغمی به لکه هغه آزادی څپی خپریږی .

آیا نو هغه وخت نه دی رارسېدلی ؟ او اوس کارونه وړاندی سته افسوس .

چی شپه دآسمان پر څنډه راپورته کیږی او دریابی خاچوڼی. په هغه نور کی چی ژردی نیست او ورك شی وخپلو ځایو ته الوزی آه دا ځنځیران به کله پری سی او دا کښتی به کله لکه هغه وروستنی وړانګی دشپی په تورو دربېلو کښی رهی شی .

د[ریدی] ترجمه



دګوئیته اثر

نیکوکاران پرخپل حال پریږدی

که څوك خوشحاله وی همسایه ئې افسرده وی او هغه ورځ چی همسایه ئې خوښ وی بېادی په یوه غم اخته وی .

پوهان هم دغه رنګه دنا پوهانو دخشم او کینی څخه په ربړدی اما کله چی یو ددوی څخه مړشی نو خلك پر هغه ژاړی او ویشو واخ کوی او پرنامه ئې اعانه ټولوی چی دده په یادونه یا دګار جوړ کړی او نوم ئې دا بد دپاره ژوندی وساتی

که زما څخه پوښتی وایم ، چی دخدای پرپار نیکوکاران لااقل پسله مرګه پرخپل حال پرېږدی او په دوی اړه مه لری او په خپله به ډیر خوښ وی .

د پیغلی[فرېدی] ترجمه

په پورتنی عکس کښې درضا کارو میرمنو د هیئت غړی چې څه موده
مخکښې کندهار ته درضا کارو میرمنو مؤسسې ته د مرستې
دورکړې په غرض راغلی وی د کندهار درضا کارو
میرمنو د غړو او آمرې سره لیدل کیږي .